
# د اصفهان فاتح

تاريخي ناول

نثار احمد آريا



# لومړی څپرکی

د (۱۷۲۱م) کال په وروستیو میاشتو کې د اصفهان پر صفوي سلطنت باندې د شاه محمود هوتک د حملې آوازې راغلې. دې آوازو که له یوه لورې د دې ښار په خلکو کې د بحثونو دایرې گرمې کړې، نو له بلې خوا یې صفوي دولت هم دې ته اړ کړ، چې هر جلاوطنه سړي ته د افغان دولت د مخبر په سترگه وگوري.

د همدې کال د وروستۍ میاشتې په یو ماځیگر د اصفهان ښار په یوه شتمنه سیمه کې ډله خلک کوڅې ته راوتلي ول. ټولو د کوڅې سر ته هېښ، هېښ کتل. د کوڅې په سر کې پر آسونو سپاره عسکر ولاړ ول. سپرو د خپلو آسونو د مهارولو هڅه کول. آسونو سینې رااېستلې وې او په لنډ غاړي کې یې شا و مخ ته گامونه وهل.

یوه آس له مستیه سر لاندې وواهه. پښه یې له مځکې سره ووهل. له مځکې څخه شگې او خاورې باد سوې.

یو خوان په سپرو کې ښځې کړې سترگې راواړولې، د څنگ د سپین ږیرې غوږ ته یې خوله ورنژدې کړه او وې ویل:

ــ د شاه خاص ساتونکې مالومېږي!

۵

سپین ږیري یو ځل بیا سپرو ته وکتل او وچ گونجي، گونجي مخ یې ځوان ته ور واړاوه:

- لکه چي بده پېښه ده!... که نه نو دوی کله راوتل؟... زما په خپل ژوند نه په یادیږي، چي دوی دي دې محلې ته راغلي وي.

ځوان هغه ته د تائید سر وښوراوه او زیاته یې کړه:

- کوڅه یې د شاله خوا هم ټوله محاصره کړې ده!

سپین ږیري په داسي حال کي چي خوږې، خوږې کوچنۍ سترگي یې له کولکانو را ایستلي وې، ور غبرگه کړه:

- خدای دي خیر کړي... چي کیسه څه ده؟

ځوان راسته اوږه پر کمیس سر بېره وگروله او د بوډا د سترگو په کونجانو کي ولاړو وچو سپینو اوښکو ته یې وکتل:

- نه پوهېږم ... زه چي له بازاره راتلم، یو نفر ویل، په یو افغان مخبر پسي گرځي!

- ښه! نو دلته به د چا کره وي؟

ځوان بوډا ته د سترگو په اشاره خپل څنگ ته ولاړ هلک ته اشاره وکړه. بوډا خپلي شناوي ورو ځي پور ته کش کړې:

- ښه!

کوچنی دوی ته غوږ وو. کله چي یې د دوی دا خبري واورېدې، نو په ځغاسته کور ته ننوت.

***

هلک په سوې ساه له دهلېزه د مېلمنو کوټې ته ور تاو سو. پښه یې له وارخطایۍ څخه د دروازې له چارچوب سره ولگېده:

- اخ! پښه مي ماته سوه.

هغه ځای پر ځای کښېناست. د خپلې راسته پښې بټه ګوته یې په لاسونو کې ټینګه ونیوله. مخ یې سور واوښت. لږ وروسته یې په کوټه کې ناست مېلمه ته سترګې ور پورته کړې. په سترګو کې یې د اوښکو نری ځپه ځلېده. له غیرته یې مېلمه ته خوله ویره کړه.

د مېلمه سوربخُن نري بریته سره ولاړل. د کونډۍ سور وشمه نازکې ږیرې پر سر یې په سرو باړخوګانو کې نري، نري سره رګونه ښکاره سول. له نرمي موسکا سره یې په دروند ږغ وویل:

– څوک پام کوي!

بیا یې د هلک پلار ته مخ ور واړاوه:

– خوږ سو!

د کوچني پلار څو شېبې په هلک کې خپلې قهرجنې سترګې ښخې کړې وې. د تندي ګونجې یې لا زیاتې سوې او پر هلک یې خوله ورخلاصه کړه:

– د لوده زو... څه پېښه وه، چې داسې را سور بدلی وې؟

کوچني سترګې لاندې واچولې او د ګوتې اوښتي شنه نوک ته یې وکتل. د هلک د پښې خوږ ګوته له درده رېږدېده. پلار یې بیا پر ږغ کړه:

– وام څه پېښه وه، چې داسې په سوې ساه راغلې؟

هلک په داسې حال کې چې د پښې د درد له امله یې په خوله کې نرۍ دم سوې ناوړه تېروله او خوله یې بد خونده نیولې وه، لومړی په کوټه کې ناست مېلمه ته وکتل او بیا یې وویل:

– کوځې ته د شاه سپاره راغلي دي!

بیا یې لنډ پسې وویل:

- په کورونو کي د يو افغان پسي ګوري!

ځوان مېلمه خپله ورېښمنه پګړۍ پر سر سمه کړه. ناآرامه سو. د يو افغان په حيث يې داسي احساس کړه، چي عسکر د ده پسي ګرځي. ځوان د هلک پلار ته وارخطا وکتل. د هغه په ګردي مخ کي غاړۍ سترګي ښه پسي ننوتې. په تجسس يې لومړۍ د هلک پښې او بيا سترګو ته وکتل:

- دا چا ويل؟

هلک له خوږ ګوتي سترګي راپورته کړې او پلار ته يې وويل:

- جعفر د مصطفٰی نيکه ته ويل... د محلې ټول خلک کوڅې ته راوتلي دي...

د هلک پلار مېلمه ته وکتل او له ولاړېدو سره يې وويل:

- وبخښه... زه يو پلا ور وځم، چي څه پېښه ده؟

سړي په سترګو هلک ته کور ته د تلو اشاره وکړه او خپله دباندي ووت.

کله چي هغه ووت، په کوټه کي چوپتيا سوه. د ځوان پر ذهن په لنډ وخت کي ډول، ډول فکرونو غلبه وکړه. حتماً زما پسي ګرځي! نه نو ما خو داسي کار نه دئ کړی. بل به نو څوک وي؟ د ښار په نورو برخو کي به افغان سوداګر وي، مګر په دې سيمه کي زما پرته بل څوک سته؟ زما پسي به ولي ګرځي؟

***

کوربه تلولی بېرته کوټې ته ورننوت. د خولې ناوړه يې وچه، وچه کړه. په لنډ وخت کي يې څو پلا د ستوني د لندولو له پاره ناوړه تېره کړه. مېلمه لومړۍ د هغه ګردۍ پنډي تنې او بيا په لنډو پنډو لاسونو

کي غالیچې او بل ځراغ ته وکتل:
-آقا شبر علي خیریت دئ؟
هغه په داسي حال چي دخپلي وارخطایی او اندېښنې د پټولو هڅه
یې کوله، ځوان ته وویل:
- نه پوهېږم... رېدیه زویه اوضاع سمه نه رامالومیږي!
بیا یې په کوټه کي یوې او بلي خوا ته وکتل، نرمه غاړه یې تازه کړه:
- ډېره د وارخطایی خبره نه ده، خو احتیاط ښه دی...
-ولي خیر؟!
- ته راځه لومړی به ځان تر یوځایه ورسوو، نوري خبري به وروسته
وکړو.
هغه له کوټې ووت. په لاس یې رېدي ته د هغه پسي د ورتلو اشاره
وکړه او ورو وبونېد:
-زما پسې راځه!
هغوی له کوټې څخه دهلېز ته ووتل. په دهلیز کي یوه پېغله نجلی
له یوې پخې ښځي سره ولاړه وه. ښځي په ځوان کي سترګي ښخي
کړي وې او له ځان سره یې پرلپسې د دعاوو پسپسی جوړ کړی وو، خو
نجلی چوپه ولاړه وه او ځوان ته یې اندېښمن، اندېښمن کتل.
له کوټې څخه څو ګامه مخکي په دهلیز کي چپ لاس ته کوچنی د
لرګي دروازه وه. شبر علي د دروازې قلف خلاص کړ. د دروازې شاته یو
متر برداره زینې پورته سوي وې. زینې تیاره وې یوازي تر څو زینو
پوري د دهلېز رڼا ورتله. له څو زینو وروسته ښي لور ته ګرځېدلي وې او
بیا سیخ بام ته ختلي وې.
رېدی چي له زینو څخه بام ته واوښت، نو ژوره ساه یې واخیسته. څو

شېبې پر ځای ودرېد، او د بام له سره یې د اصفهان پر ښار نظر تېر کړ. نژدې کورونه اکثره دوه پوړه او غټ ول، خو له دې ها خوا ته غټې او کوچنۍ ودانۍ ښکارېدې.

د ښار د نورو سیمو په پرتله په نژدې محله کې ونې ډېرې ښکارېدې. ښه وړاندې د صفوي شاه حسین څو پوړیزه ماڼۍ په سکون ولاړه او له غربي دېوالونو څخه یې د لوېدونکي لمر نارنجي وړانګې لکه غشي اسمان ته ختلې وې.

هغه لا د ښار په ننداره بوخت وو، چې شېر علي پر اوږه وټپاوه:

– رېدیه زویه! وخت باید ضایه نه کړو... وروسته بیا ارمان په درد نه خوري!

ځوان شېر علي ته موسکی سو او وې پوښت:

–آقا په کیسه خو مي لږ پوه کړه!

هغه د ځوان تر نریو سور بخونو برېتو لاندې د دوو سپینو غاښونو تر منځ فاصلې ته لنډه شېبه ځیر سو او بیا یې له اندېښنې توري شونډې وښورېدې:

– د شاه خاص ساتونکي راغلي دي، په یوه افغان پسې ګرځي... کیسه اوږده ده... هله! ته راځه نور به لاندې پر وږغېږو.

شېر علي یو بادبان ته ورتېر سو. د هغه پر څنډه کښېناست او بیا یې یو پړی چې پر مېخ طبیله غوټه وو، په لاسونو کې ټینګ ونیو او لاندې ورکښته سو. رېدی هم د هغه په تقلید لومړی د بادبان پر څنډه کښېناست او بیا یې د بادبان پر دېوال ښۍ پښه لاندې ور ښوی کړه.

د دېوال په دننه کې پر نیم میترۍ باندې د پښو ایښولو له پاره کوپې (تاخچې) وهل سوي وې. ټولې اته تاخچې لاندې تللې وې. لاندې

دوه میتره پلن او اوږد دالان وو.

په لاندې دالان کې د خاورو سپېره بوی تر سږمو کېدی. رېدي شېر علي ته وکتل. هغه له خپلو کالو څخه دوړي ټک وهلې. ده هم خپلو کالو ته وکتل، ډېر نه ول سپېره سوي. په کیسه کې یې نه سو. دالان یې تر نظر تېر کړ. لاندې پر فرش مړه دوړه پرته وه او څو ځایه د دوی پلونه پر وتلي ول. لوړ د دېوالونو په کونجانو کې د غڼو غټې او کوچنۍ ځالې وې. پر یوه غڼه ولاړه وه. غڼه پر خپله ځاله زنګېدله. دالان فرش او دېوالونه یې ښوی ول. د نورو خزندو نخښې نه ښکارېدې.

شېرعلي پر فرش پرتې غالیچې ته ور کړوپ سو. د رېدي ورته پام سو. غالیچه یې له هغه څخه واخیسته او د هوارولو پر مهال یې وویل:

- ښه، آقا اوس نو کیسه وکړه... په فکر کې دې واچولم.

هغه غالیچې ته اشاره وکړه:

- راځه ته کېښېنه...

دواړه په لنډ ځای کې مخامخ داسې کېښناستل، چې چپ زنګنونه یې سره نښتي ول.

شېرعلي د رېدي د ښۍ اوږې دوړه په ګوته وڅنډله او د هغه په سترګو کې یې سترګي ور ښخې کړې:

- ښه اوس نو کیسه واوره.

د هغه پر زنګانه یې لاس کېښښود او بیا یې د هغه د ډاډ له پاره زیاته کړه:

- ګوره فکر به ډېر نه په بندوې. ما احتیاطاً دا کار وکړ...

رېدي د ناکرارۍ احساس وکړ. پر پزه یې لاس تېر کړ. د نرۍ پزې سره بغلونه یې د لاس په دوړه سپېره سول. د ځان د قابو کولو هڅه یې

وکړه او د هغه خبرو ته متوجه سو:

- کیسه داسي ده... زه چي د باندي ور ووتم، نو د محلې خورا ډېر خلک له کورونو څخه راوتلي ول. په کوڅه کي پر آسانو سپاره عسکر ولاړ ول. د خلکو په قول چي نورو سپرو محله شاوخوا محاصره کړې ده...

شېرعلي پر غالیچه لوېدلې خاشه لیري کړه او بیا یې وویل:

- او ځیني نور یې په کورونو کي ګوري... د محلې دوو، درو کسانو وویل، چي د شاه کسانو پر یوه افغان سوداګر د مخبر شک راغلی دی، ځکه یې نو اوس په لټه کي ...

رېدي د خپلي حوصله مندۍ په خاطر په تمسخر وویل:

- خیر خدایه! ته مو پرده وکړې.

شېرعلي د باندي ږغونو ته غوږ سو.

- ته صبر!

یې وویل او ژر، ژر لوړ بام ته پورته سو. له د باندي څخه د نابلدو خلکو ږغونه راتلل.

رېدي ږغونو ته غوږونه څک کړل. ږغونه د کور له غولي راتلل. سم نه صحیح کېدل، چي څوک څه سره وایي.

***

د سهارني لمر په ژړو وړانګو کي د اصفهان ښار د سرو زرو پر خښته د رسم سوي، انځور غوندي ښکارېدی. تر ډېره ځایه د لویو او کوچنیو کورونو په منځ کي د امام بارو ژړي ګومبتي، لوړ منارونه او سپ کونجه تور بیرغونه ښکارېدل. په دې هرڅه کي چي تر ټولو جلا او ځانګړی ښکارېدی، هغه د دې ښار هغه اوږد پل وو، چي د ښار په منځ کي پر تېر

سوي رود پروت وو.

ربدی د ښار د پورتني فضا او په درختو کي د ناستو مرغانو د نارو په خوند نه پوهېدی. د پرون پېښي د هغه اندېښني دوه برابره کړي وې. چورت يې واهه، چي آيا عسکر رښتيا زما پسي راغلي ول؟ که مي ونيسي څه به راسره وکړي؟ آيا بيا به خپل کورووينم؟ زه به خپل اول زوی يا لور ووينم؟ هغه به هم اوس پيدا سوی وي. دې اندېښنو او چورتونو خپلي کلا ته په مخه کړ. ماښام وو. هغه د کلا په جنوبي برج کي ناست وو. د کلا په شمالي څنډه کي غځېدلي مانده ته يې کتل. د مانده په اوبو کي د اسمان نری سپوږمۍ ځلېده. کله چي به اوبو ته کوم چنګاښ يا چنګښه ور ولوېده، نو سپوږمۍ به ولړزېده،سره ولاړه به او په اوبو کي به په سپينه تپله بدله سوه.

برج ته د يو چا د ور پورته کېدو ترپی يې تر غوږ سو. مخ يې ور واړاوه. زينبه وه:

- زينبي څه کوې؟

هغې لا څه ويلو ته خوله نه وه جوړه کړې، چي ده پسي زياته کړه:

- ته بايد په دې شپو، ورځو کي له ځان سره ډېر پام وکړې. ته هم لکه چي د شپې د نظارې شوقي يې!

هغه وشرمېده. لاندي يې وکتل. پوړنی يې پر نس سم کړ. ربدي ته يې وکتل او په ګيله من يې وويل:

- ته څې او ما پر دې حال پر ېږدې؟

ربدی ور تېر سو. غېږ يې پر راو ګرځاوه او د هغې ستر ګو ته خير سو:

- ډېر غړي مه تښتوه، خدای به هر څه خير کي!

د هغې په ستر ګو کي اوښکي وځلېدي. لاندي يې وکتل او بيا يې

ورو وویل:

- زما هم وار نه دی خطا... که مړه سم، هم مي پروا نه کېږي... ستا په موجودیت کې له مرګه هم نه بېرېږم، خو...

غلې سوه. د کلا د برج دېواله ته ځیر سوه. د کلا د برج له دېواله د یوې ډبري په را تورېدلو اخته سوه.

رېدی څو شیبې همداسي چوپ ورته متوجه وو. وروسته یې د هغې لاس په لاس کې ونیو. د هغې له لاس څخه یې دوړه پو کړه او وې پوښته:

- خو څیشي؟

هغې د برج له دېوال څخه ښار ته وکتل:

- ستا په مساپرۍ کې یې تاب نه لرم... بېرېږم!

- له څیش څه؟

د هغې ږغ لا زهیر سو:

- له یوازیتوب څه! له دې بېرېږم، چي که ما د مرګ سلګۍ وهلې او ته نه وې...

شونډي یې ورپېډې او په نهیلۍ یې رېدي ته وکتل. هغه د زینبي سر پر خپله اوږه کښېښود او ډاډ یې ورکړ:

- اندېښنه مه کوه ...زه به تر دې هر څه مخکي ځان راورسوم...

هغه لا نور څه هم ویل، چي یو چا یې پر اوږه لاس ور کښېښود. لاس نرم وو. تکان یې وخوړ. هغه یې له خپلي کلا څخه بیر ته اصفهان ته راوست. شا ته یې وکتل. زلېخا وه:

- بیا په څه فکرونو کي ډوب وې؟

ده څه ونه ویل. هغې زیاته کړه:

– د پرون پېښې به لا اندېښمن کړی یې؟

– خامخا!

– ډېره درباندې گرانه ده؟

رېدي خان ناگمانه واچوه:

– څوک؟

– زینبه!

هغه نرۍ موسکا وکړه:

– هو!

بیا یې لنډ پسي وویل:

– زه پر څه حال یم او ته څه وایې؟

– ولې له بنده ډېر بېرېږې؟

– له بنده که د مرگه؟

د هغې څېره مړاوې سوه:

– دا څه وایې؟ مرگ دې سر وخوري! د اصفهان سلطنت دې سر وخوري!

ده څه و نه ویل. لا هم په چورت کې ډوب وو. لنډه شېبه دواړه چوپ ول. وروسته د ده شونډان وښورېدل:

– ته دا وخت دلته څه کوې؟

هغه موسکې سوه. سپین باړخوگان یې گردې، گردې راوختل. په همداسې موسکو شونډو یې رېدي ته یو پارسي شعر تېر کړ. رېدي څه و نه ویل. لکه په پوه سوی چې نه وي. تر لنډې چوپتیا وروسته یې خړ غوندې وویل:

– دا چې ستاسي په ژبه گذاره درسره کوم، بس نه ده، چې ته مې په

شعرونو هم زهيروي؟

د هغې باړخوګان لا ګردي سول. ربډي ته يې باړخوګانو خوند ورکړ، خوله حيا يې بلي خوا ته وکتل او خپله پوښتنه يې تکرار کړه:

- ښه، اوس دا ووايه، چې دا مهال دلته څنګه راغلې؟

هغې په ټوکه ور غبرګه کړه:

- ولي اجازه نسته؟

بيا يې لنډ پسي زياته کړه:

- ستا شپه څنګه وه؟

ربډي يو ځل د ښار پر منظره نظر واچوه او بيا يې هغې ته وکتل:

- بس يو شپه وه، تېره سوه!

- ډېر په تکليف سوې؟

- نه، ماښام چې آقا شېرعلي راځخه ولاړ او د بادبان په دالان کي يوازي سوم، نو ډول، ډول اندېښنو په مخه کړم...

غلی سو. په آسمان کي د کارغانو د سيل لنډه ننداره يې وکړه او بيا يې زياته کړه:

- بيا چې کله نيمه شپه آقا شېرعلي بږغ راوکړ، چې ور پورته سم، نو کوټې ته ولاړم، هلته پرېوتم... خو خوب مي و نه کړ ... زه بايد نور په هر ډول چې وي، له دې ځايه ځان وباسم.

وروستۍ خبري د نجلۍ پر څېره د نااميدۍ اثار راڅرګند کړل. سر يې وځړېدی، لاندي يې په ښنه يوه خاشه واړول راواړول. د هغه چي دنجلۍ دې حالت ته پام سو، نو موضوع يې بدله کړه او وې ويل:

- هو رښتيا! ماښام دباندي يو ډول بږوږ سو. څه کيسه وه، چې آقا شېرعلي در پورته سو؟

نجلۍ چې سترگې ور پورته کړې، نو په سترگو کې یې اوښکې ځلېدې. سترگې یې له هغه ځخه واړولې. په درخته کې ناستې مینا ته یې وکتل او تر اوږدې چوپتیا وروسته یې په نیولي ږغ وویل:

– عسکر راغله... زموږ کور یې تلاښي کړ، خو بیا هم تړ ناوخته پاته وه...

هغه یې وکړه، چې نور څه هم ووایي، خو ستوني یې را ډک سو. له راسته سترگې یې پر سپین ډک باړخو رڼه اوښکه راورغړېده. لاندې یې وکتل او ژر، ژر له بامه لاندې تا سوه.

***

رېدې چې د ماځیگر د لمانځه سلام وگرځاوه، شبر علي کوټې ته ور ننوت. د هغه په لاس کې کالي وه. د روغبړ تر مخه یې رېدې ته نرمه موسکا وکړه:

– ته باید نور اصفهانی سې! پرون بیا څو ځایه عسکرو چاپې وهلې دي. څو افغانان یې نیولي هم دي!

په لاس کې ورسره جامو ته یې وکتل:

– دا خپل کالي به وکاږې او دا به واغوندې...

رېدې چې خبرې ته ځان جوړاوه، هغه پسې زیاته کړه:

– زه وځم، ته دغه کالي واغونده، نورې خبرې به وروسته وکړو.

هغه ووت. رېدې جامې راواخیستې. هغه یې سره واړولې او بېرته یې پر خپل ځای کښېښودې. نفس یې تنگ سو. زړه یې غوښتل، چې وزرونه وکړي او له دې قفسه ځان وباسي.

لږ وروسته چې شبرعلي راغی، نو لومړی یې راوړو جامو او بیا رېدې ته وکتل. خړ غوندې سو:

- لکه چي خوند یې در نه کړ؟

رېدي پر تو جامو ته وکتل:

- نه، آقا! دا خبره نه ده، خو...

هغه چوپ سو. شېرعلي بې له څه ویلو په پوښتونکي نظر ورته متوجه سو:

- ما ول، بې له هغه روان یم، نو مي اړتیا احساس نه کړه.

- رېدیه زویه اوضاع سمه نه ده... د ښار خلک ډول، ډول خبري کوي. دوی وایي، شاه ته د شاه محمود له لوري پر کرمان د بیا حملې خبر راغلی دئ، ځکه نو افغانانو ته سخت په قهر دئ...

هغه جامې را واخیستې، د رېدي مخ ته یې کښېښودې او بیا یې خبره پسي وغځول:

- د خلکو له قوله چي په تېرو څو ورځو کي شاه ځیني افغان سوداګر شاه محمود ته د مخبرۍ په تور نیولي او وژلي دي...

د رېدي بدن ریښکي سو. د هغه خبره یې ور پرې کړه:

- آقا! نه غواړم، چي په پڅه چاړه مړ سم. چي داسي ده، نو زه باید سبا حتماً له دې ځایه ځان وباسم!

تر لنډي چوپتیا وروسته یې زیاته کړه:

- ښایي زما له لاسه تاسي ته لا سر خوږی جوړ سي.

شېرعلي په ګیله من انداز جواب ورکړ:

- دا ته څه وایې؟ رېدیه زویه!... ته ولي داسي فکر کوې؟ ته ما ته تر خپل اولاد په کمه نه یې. که زه تا په داسي حالت کي پر پرېږدم او پر لاره څه در وسي، نو زه به دې پلار ته څه جواب وایم. هغه به وایي، دې نامرده زما د دونده ښو صیله په دې ډول راکړه... دا امکان لري، چي زه

داسي وکړم؟

-آقا شبر علي! نو زه به تر څو دلته بندي يم؟ او بل که يو څه پېښ سي، نو حتماً تاسي هم راسره په تکليفېږی!

-اوس چي هر څنګه وي د تګ له پاره مناسب وخت نه دئ!، ځکه د شاه سرتېرو شاوخوا لاري هم تر څار لاندي نيولي دي. د خلکو له قوله چي ځيني افغانان يې د لاري له سره هم نيولي او وژلي دي!...

بيا يې د خواست په ډول وويل:

- زه يو وار دباندي وځم. ته زما خبره ومنه. دغه جامې واغونده، ځکه ستا خپلي جامې په داسي حال کي مناسبي نه دي.

***

ماخوستن د بام پر سر نری، نری سوړ باد چلېدی. رېدی باد ته مخامخ ودرېد. پر مخ يې د هوا نرمي سړې څپې ښوېدلې. هغه ته يې خوند ورکړ. لږ شببه نور هم همداسي مخ پر باد ودرېد او د ښار په ننداره سو.

درسته سپوږمۍ د ګاټه سپيني وريځي څخه راووته او پر ښار يې د روڼا تت څادر خپور کړ. د ښار د ډېرو کورونو له کړکيو څخه د څراغونو ژړي روناوي ښکارېدې.

بام ته له زينو څخه ژړه رونا راغله. هغه مخ ور واړاوه. زلېخا له څراغ سره بام ته راواوښته او ده ته مخامخ ودرېده. څو شېبې دواړه چوپ ول. وروسته د زلېخا شونډي وښورېدې:

- ته خې؟

رېدی د څراغ په ژړه رونا کي د هغې په ډک مخ کي ننوتلو سترګو ته تر ځير سو. د څراغ په تته رونا کي د هغې سترګي سمي نه صحيح

کېدې. وروسته يې د ښار پر منظره نظر تېر کړ او هغې ته يې د ډاډ په ډول وويل:

– بس دا نو د تقدير پېښه ده او دا لا هم نه ده، معلومه، چې ما به کومې خوا ته بوزي؟ زما په مخ کې له ښاره د وتلو خنډ له پر ځای پاته دئ. څوک څه خبر دئ، چې زه به له دې ښاره ژوندی ووزم، که به د تورو خاورو بنديوان سم!

هغه په خوله کې ور ولوېده:

– که دې دا تقدير، تقدير درلود، نو هر څه به سر چپه روان سي!

رېدی نيولی غوندې سو. ستر گې يې له حيرانتيا سره ننوتې:

– زليخا! ته خپلې خبرې ته متوجه يې چې څه وايې؟

– ولې؟

– تا ويل، که دې دا تقدير، تقدير درلود، نو هر څه به سر...!

هغې تندی ورين کړ:

– نو په دې کې د حيرانتيا څه خبره ده؟

د رېدې ستر گې لا سره ننوتې:

– ته په دې نه پوهېږې، چې له تقدير سره ډغري، گناه ده؟

د هغې تندې بير ته گونجې وکړې:

– گناه؟

– هو، نو د انسان تقدير خو خدای ليکلی!

هغې خبره يو څه نرمه کړه:

– خو زموږ د شعر او حکمت استاد ويل، د انسان تقدير د هغه د ارادې او نيت په لاس کې دئ!

– دا څه وايې؟

ولي نو داسي نه ده؟

-خیر، دازما او ستا تر وس لوړي خبري دي.

رېدي څو پلا د اوداسه لانده وزرېښتان په گوتو شاته واړول او بيا بې وويل:

-زه تاته دونده وايم، چي خپل ځان هېرولای سم، خو تا نه...زه اوس د پاڼ او پړانگ تر منځ يم. زما او ستا دواړو له پاره اوس دا خبره په خبره ده، چي زه ځان ژوندی له دې وطنه وباسم...

زليخا خبره ور پرې کړه:

-چي داسي ده نو ماهم درسره بوزه!

-ايا په دې حالت کي دا امکان لري؟... که زما پر مينه باور لرې، نو پر دې خبره مي هم باور وکړه، چي هېروم دي نه. وعده در کوم، چي په هر ډول وي، ځان رارسوم در ته او يا دي تر ځانه رارسوم.

***

سپېدې لا نه وې چاودلي، چي د شېر علي کورنۍ له رېدي سره د کور په غولي کي ولاړ ول. دوی رېدي ته کتل، هغه سر لاندي ځړولی وو. لږ وروسته شېرعلي خپل نوکر ته ور ږغ کړه:

-صفدره! آس راوله.

د طبيلې د لرگيني دورازې سوی گرږی پورته سو. دروازه خلاصه سوه او صفدر له آس سره راووت. آس سر غورځاوه او له مځکي سره يې گامونه جنگول. کله چي دوی ته راورسېد، نو شېر علي صفدر ته مخ ور واړاوه:

-نام خدا، مست سوی دئ.

هغه! بلې وکړه او د آس پر غاړه يې لاس تېر کړ.

رېدی ور ورړاندي سو. د آس جيلو يې له صفدر څخه واخيست او دوی ته يې وکتل:

– تاسي نور نه تکليفوم! اجازه راکړئ.

زلېخا رېدي ته يوه کڅوړه ور وړاندي کړه او وې ويل:

– دا ستا کالي او څه نور د ضرورت شيان دي.

رېدي کڅوړه واخيسته. آس يې تر جيلو ونيو او ميده، ميده د لويي دروازې پر خوا رهي سو. له نوکر پرته نور ټول پسې ور ووتل.

له خدای پاماني وروسته رېدی پر آس کښېناست او ورو، ورو مخته ولاړ. هغه لا څو گامه نه وو، تللی، چي له شا څخه د زلېخا سوې ناره سوه:

– ودرېږه!

هغه شا ته وکتل. ودرېد. زلېخا په ځغاسته ورغله. په اوښکو لانده بانوگان يې هغه ته ور پورته کړل:

– ما خو به نه هېروې؟

د هغې له دې خبري سره رېدي ته ځان ډېر بې وسه ښکاره سو. زړه يې د بې وسی درد وکړ. په ستر گو کي يې اوښکي وځلېدې. له څه ويلو مخکي يې غونی ږېږ سو. مخ يې واړاوه او پر ته له دې چي څه ووايي رهي سو.

هغه لا آس نه وو، پونده کړی، چي د کوڅې سر ته د سپرو عسکرو ډله تېره سوه. سپاره لنډ بيرته را تاو سول پر رېدي يې حلقه راو گرځوله.

– څوک يې؟

د هغه څخه خبره ور که سوه. وار پار يې خطا سو. وارخطا يې شا

ته وکتل. شېرعلي دوی ته کتل. هغه څو شېبې پر ځای هېښ ولاړ وو او بيا يې پر دوی ور وځغستل.

هغه چي دوی ته ور ورسېد، نو ساه يې لنډه، لنډه شوه. ژبه يې بنده، بنده سوه:

- آقا!... زه شېر علي سوداگر... يم. دی با... باوري سړی دئ. زما سر... سره کوچنی لوی...

د سپرو مشر په مغرورانه انداز په خوله کي ور ولوېد:

- د شاه امر دئ!

بيا يې عسکر ته د امر په ډول سر وښوراوه. هغه رېدی له آسه را کش کړ او په پښو يې په مخه کړ. زلېخا او مور يې په چيغو سوې. شېر علي يو ځل بيا د سپرو مشر ته ور وړاندي سو:

- آقا! د خدای روی دا مو د کور سړی دئ!

هغه په امرانه انداز ور غبرگه کړه:

- مزاحمت مه کوه! حرمسرای ته راسه!

د شنې خړې په چوپتيا کي د آسونو د پښو وحشتناکه ترپې پورته سوا او رېدی يې مخ پر حرمسرای روان کړ.

***

د رېدي د نيولو شپږمه کېده. شېر علي له ډېرو ځغاستو او ننواتو وروسته په دې توانېدلی وو، چي په ضمانت د رېدي د خوشي کولو له پاره لار هواره کړي. هغه ته يو عسکر په لاس اشاره وکړه:

- داسي راځه!

هغه له يو لوړ پراخ دالېزه په يوه کوچنی دروازه ننوت. دننه يو ميتر تنگ اوږد دالان وو. دالان تياره او دېوالونه يې خړل ول. تپ خوسا بوی

يې د سږي نفس تنګاوه. د دالېز بېرونکي محيط د شېرعلي د بدن غړي ور سست کړل. بدن يې مېږي، مېږي سو او له خولې يې بې واکه ووتل:

- توبه خدايه! ته مو پرده وکړې.

سرتېري خپلي جلالي سترګي پر را واړولې او په يو بل دالېز کي لاندي تا سو.

لاندي دالېز لا تياره وو. يوازي له يوه کوچني کلکين څخه رڼا راتله. شېرعلي پر ځای ودرېد. څو شيبې خپلو بوټونو ته ځير سو، کله چي يې سهي کړل، نو بيا په احتياط مخ ته ولاړ. څو ګامه يې لا نه وو اخيستي، چي له يو عسکر سره کي وجنګېدی. له خولې يې وارخطا ووتل:

- خير خدايه! ته مي پرده وکړې.

سرتېري هغه ته په خښم وکتل، خو څه يې ونه ويل. د يوې کوټې دروازه يې پرانيسته او ده ته يې په سترګو د ور ننوتو اشاره وکړه. د هغه يو ځل بيا له خولې ووتل:

- توبه خدايه! ته مو پرده وکړې.

هغه سترګي وغړولې. تياره وه. په کوټه کي څوک نه ښکارېدل. بيا يې ورو شونډې ورپېدې:

- رېديه زويه!

د کوټې په کونج کي يو تور شی سره وښورېدی. دی ور نژدې سو.

- رېديه زويه! ته يې؟

هغه په زحمت د ولاړېدو هڅه وکړه.

- آقا! ته... دلته څه کوې؟

شېر علي يې پر اوږه لاس ور کښېښود او تر ولاړېدو مخکې يې
بېرته له ځان سره کښېناوه. شېر علي د هغه د ځېرې د سهې کولو هڅه
وکړه، خو تيارې يې مزاحمت وکړ. هغه رېدي ته خوله ور نژدې کړه او
په پس، پسې يې وويل:

-زويه ډېر خو به يې خوږ کړی نه يې؟

هغه سر لاندې وځړاوه او ورو يې شونډې وښورېدې:

-خير نو، دا خو ژوند دئ!

شېرعلي هغه ته نور ور نژدې سو:

- رېديه زويه! دا شپږ ورځې مې نه خوب کړی دئ نه آرام
کښېناستلی يم.

-آقا! ډېر تشويش مه کوه. دا به مې په تقدير کې ليکلې وه.

-زويه څنګه تشويش نه کوم؟ ستا د مرګ او ژوند خبره وه.

بيا يې لنډ پسې زياته کړه:

-اوس مې د خدای پار درته نيولی دئ، ته مې په خوله وکړه!

رېدي سترګې را پورته کړې:

- پوه نه سوم؟

- ما دا څو ورځې تر هر ځايه و ځغستل... آخير مې ستا تضمين
پر غاړه واخيست!

- تضمين؟

- هو! خو دوې يو شرط لري.

- څنګه شرط؟

- رېديه زويه! د خدای پار مې درته نيولی دئ... چې انکار ونه
کړې!

هغه سر لاندي وځړاوه او ورو يې وويل :

-آقا ! پوه نه سوم.

هغه بیا خوله ور نژدې کړه :

- دوی وای، په دې شرط يې په ضمانت ایله کوو، چي موږ ته به خدمت کوي.

رېدي سر را پورته کړ او د هغه ستر گو ته ځیر سو :

- خدمت؟

- هو، دوی وای، موږ ته به د افغان لښکر مخبري کوي.

رېدی نا ارامه سره وښورېد. شېرعلي يې ستر گو ته ښه ځیر سو. ستر گو يې توري الغې نیولې وې. مخکي له دې چي هغه څه ووايي، شېرعلي نرم پسي زیاته کړه :

- ته گوره بیا هم د خدای پار درته نیسم ! زه پوهېږم، چي ستا نفس يې نه اخلي، خو تر سر هیڅ نه دي مهم... ستا د سر خبره ده ! ستا د کور خبره ده...

هغه خاموش وو. شېرعلي تر ډېره ورته گډ وو. وروسته يې د قرآن څو پاڼي را وایستې. څو پلا يې مچ کړې او د هغه لاس يې پر کښېښود :

- د دغه پاڼو روی مي درته نیولی ! ستا سر تر هر څه مهم دئ. ته اوس دا خبره ومنه. خدای قادر ذات دئ. ښایي هر څه تغیر وخوري.

د رېدي پرسېدلي شونډان مړه وښورېدل :

- بس نو همدا به تقدیر وي ! زه به پر خپل ضمیر پښه کښېږدم او درسره وبه يې منم !

شېرعلي له خوښۍ څخه ژر د کوټې دروازې ته وکتل. ستوني يې راډک سو :

-شکر خدایه!

چست ولاړ سو. بیر ته هغه ته ور کوږ سو:

-زه به له دوی سره ستا خبره شریکه کړم، چي د آزادېدو کار دي سره پسې سي.

رېدی یې پر تندي مچ کړ او له کوټې ووت.

# دوهم څپرکی

له زندانه د آزادېدو پر شلمه ماپښین قضا رېدی کندهار ښار ته د قیتول له دروازې ورننوت. له هغه ځایه یې خپلې کلا ته وکتل. کلا خاموشه ولاړه وه. هغه یې په لویه لرګینه دروازه کې سترګې ښخې کړې. په دروازه کې څوک نه ښکارېدل. پر تټوله لار یې په لومړي پلا د تلوار احساس وکړ. آس یې پونده کړ. څو ګامه یې تېز واخیستل، بېرته ورو سو.

رېدي د کلا دروازه ور پوري وهل. له لویې لرګینې دروازې څخه غنجی پورته سو. هغه چې کلا ته سر ور دننه کړ، نو مور یې ولید. د مور یې له حیرانتیا او خوښۍ له ګډ احساس سره سترګې هېښې راوختې او چیغه یې کړه:

–وی! د خدای روی دئ... رېدیه زویه ته...

خبره یې پرې کړه او ور منډه یې کړه. هغه یې په غېږ کې ونیو. په ژړا سوه او د ننوتلو ګونجو، ګونجو بارخو ګانو ډب ته یې اوښکې ور توی سوې.

لږ وروسته زينب هم له خوني راووته. هغې رېدي ته کتل، خو کله چي هغه ورته وکتل. حيا ورغله. سترگي يې چپي کړې او په غېږ کي ورسره کوچني ته يې په موسکا وکتل.

رېدي کوچني ته وکتل. د هغه پر سپين تندي د رنجو تور الف ختلی وو. هلک پلار ته بې اختياره وخندل او بيا د مور په غېږ کي سره وغورځېدی. پلار ته يې خوند ورکړ، خو ژر يې بيرته په سترگو کي د اندېښنو آثار څرگند سول.

مور يې درک کړ:

- زويه لکه چي ډېر ستړی يې؟

- يا!

هغه يې سترگو ته ځير سوه:

- زويه پر غلو اوښتی يې، چي دونده وځنډېدې؟

- يا، خيريت دئ.

مور يې سترگو ته ښه ځير سوه:

- د سترگو حلقې دي هم دا دئ، شنې دي؟ څه، خدای پرده در کړې ده. مال يې په بلا پسې، چي ته ژوندی راغلې.

د مور خبرو لږ سم کړ. يو ځل بيا يې زوی ته وکتل. له دې پلا کوچني د کلا په منځ کي د وچي درختي ولاړ منډو ته وکتل او يو وار بيا يې بې اختياره وخندل.

رېدي مور ته وکتل. هغې د ده تر ويلو مخکي ور غبر گه کړه:

- هو، ورځه زويه ستړی به يې. کرار پرېوزه!

له دې سره هغه هم مخ پر خپله کوټه ولاړ.

***

د رېدي د راتگ درېيمه وه. هغه په خپله طبيله کي د آس په روزولو
اخته وو، چي د کلا د دروازې شرنگی سو. زينب طبيلې ته سر ور ايسته
کړ او هغه ته يې په سر اشاره وکړه:

- دروازه ده!

رېدی پرته له دې چي څه ووايي د کلا دروازې ته ور رهي سو.

په دروازه کي پر آس سپور سرتېری ولاړ وو. هغه له لنډ روغبړ
وروسته رېدي ته وويل:

- اعليحضرت غوښتی يې!

د رېدي تندی غوټي، غوټي سو:

- اعليحضرت شاه محمود؟

- هو.

- خيريت وو؟

- نه پوهېږم، خو اعليحضرت ويل: غواړم سبا نه بل سبا ديووينم.

- چيري او څه وخت؟

- ماځيگر تر لمانځه وروسته، په نارنج کي.

- سمه ده!

سرتېري پر آس پښه واړول، هغه يې پونده کړ. د آس د قدمونو
موزون ړغ پورته سو او مړه دوړه يې تر شا پرېښوده.

***

د کوټې په يوه دربند کي څراغ بل وو. د څراغ د لمبې له سر څخه
نري، نري دود پورته کېدی. کله چي به څراغ باد وواهه، نو د پليتې
لمبه به يې وترپېده، د سر نري دود به يې ړنگ، بنگ سو او په کوټه کي
به د تېلو مړ بوی پورته سو.

کله چې سترخوان ټول سو، نو رېدي ته مخامخ سپین بږیري وربښمینه پګړۍ له سره لیري کړه. پر ککرۍ یې لاس تېر کړ. شاته اړولي شناوي وربښتان یې پر سر سریښ ول. هغه له خولې برېتونه پورته کړل او رېدي ته یې وکتل:

- نو مالونه به کله راسي؟

هغه پلار ته وکتل. د پلار پر مخ یې د خپلي پنډي اوږې سایې ته پام سو. څنګ ته وڅکېدی. کله چې یې د څراغ په ژړه رونا کي د پلار څېره پوره ولیده، نو یې وویل:

- نو وضعیت ته به ګورو... آقا شېرعلي ته مي وویل، چې که یو باوري کس په لاس درسي، نو مالونه په لاس ورکه...

هغوی تر ډېره پر بېلابېلو مسایلو خبري وکړې. بیا تر یوې لنډي خاموشۍ وروسته رېدي وویل:

- بابا! شاه محمود څنګه دئ؟

- ښه دئ، خدای دي برې ورکي. نیت لري، چې په دا نژدو ورځو کي پر اصفهان ورسي!

رېدي له سرې غالۍ څخه دوې ورجي پورته کړې او پلار ته یې وکتل:

- ماخیګر یې سرې رااستولی وو، چې سبا نه بل سبا ورسره ووینم.

د پلار شناوۍ ورزي یې پر سترګو را کښته سوې. خولې ته یې خبره راغله خو وې نه کړه.

رېدي بغل ته وکتل. کوچنی زوی یې پر مځکه پروت وو. یو ګړی ورته ځیر سو. کوچني به سر ته وکتل. پښې به یې پر مځکه وتپرولې او بیا به یې وخندل. د نیکه خوله یې ویره سوه او وې یې وویل:

- ډېر شوخ دئ!

درېدي نري برېتونه سره ولاړه. خپلي مور ته يې وکتل او وې ويل:

- نوم يې څيشي دئ؟

مور يې نيکه ته وکتل او له نرمي موسکا سره يې وويل:

- نيکه يې محمود بولي خو زما احمد خوښ وو.

- ښه... دواړه ښه نومونه دي...

- رېدي پلار ته وکتل. هغه په اوږده شناوي ږيره کي مړې، مړې گوتي وهلې او د څراغ لمبې ته ځير وو:

- بابا! څه چورت وهې؟

- زويه! ستا په خبره کي مي چورت بند سو.

- ولي؟

پلار يې پر تندي ناسته غوماشه مړه کړه:

- شاه محمود غواړي، چي تا هم اصفهان ته ورسره ملگری کړي.

- نو دا خو د چورت د بندېدو خبره نه ده!

په کوټه کي چوپتيا سوه. ټولو هېښ، هېښ رېدي ته وکتل. له دباندي د سپيانو غپا راتله.

سپين ږيري غاړه تازه کړه:

- زويه، نو ستا خو دوې ورځي نه کېږي، چي راغلی يې...

لنډ چوپ سو او بيا يې زياته کړه:

- هغه ستړيا دي لا نه ده وتلې.

سپين ږيري زينبي او کوچني ته وکتل. هغو ته يې په لاس اشاره وکړه:

- نو دا مومنان بيا يوازي پرېږدې؟

رېدي زینبي ته وکتل:

- نو داغه به مو په تقدیر کي لیکلي وي!

زینبي د کوچني پر تندي دسمال را کش کړ. بانه او شونډې یې ورپېدل. کوچنی یې راپورته کړ او له کوټې ژر ووته.

***

په کوټه کي خام څراغ بل وو. رېدی ستوني ستغ پروت وو او د خوني گول پوښښ ته ځیر وو. د پوښښ پر خښتو ځای، ځای گڼ مچان ناست ول. خاموشي وه، له دباندي د سپیانو غپا راتله. زینبي خنگ بدل کړ:

- که شاه محمود د تلو در ته وویل، نو ته له لښکر سره ځې؟

- هو، نو چاره نه لرم!

- نو مور بیا یوازي پر پرېدې؟

رېدی چوپ وو. هغې بیا وویل:

- نور دي لکه، چي هغه پخوانی مینه...

رېدي یې خبره ور پرې کړه:

- زینبي!... ته باید داسي فکر ونه کې... دا خو ژوند دئ، هر څه

پکښي راځي. هغه خپلو راتلونکو مشکلاتو ته چورت یوور. په زړه کي

یې وویل، چي ته یوازي د تگ خبره کوې، خو زما سل نوري بد بختۍ

په مخ کي دي. هغه له چورتونو څخه د راوتلو هڅه وکړه:

- ته گوره زینبي!... که زه د هغه خبره ونه منم نو دا خلک به څه

وایي؟او بل...

خبره یې پرې کړه. په کوټه کي خاموشي خپره سوه. شېبه وروسته

زینبي وپوښتل:

- او بل ځیشي؟

هغه څه ونه ویل. ځان یې پر خوب واچاوه. زینبې تت څراغ د هغه مخ ته ورنژدې کړ. د هغه سترګي پټي وې. زینبه د شا پر تخته پرې وته، په چورتونو کي ډوبه سوه. په کوټه کي خاموشي وه، له دباندې د چورچورکو او سپیانو د غپا برغ راتلی.

***

ماځیګر وو. رېدی د نارنج ماڼۍ د لوړ بام پر تخت ناست وو. هغه د ماڼۍ په لمر خاته کي د کروندو او باغونو په غوړېدلي میدان کي سترګي ښخي کړي وې او د خپل نامعلوم راتلونکي چورتونو په مخه کړی وو، چي له شا څخه یو دروند نارینه برغ ټکان ورکړ:

- رېدیه راغلی یې؟

هغه شاته وکتل. شاه محمود ولاړ وو. لاس یې ځیګر ته یووړ او موسکی سو:

- اعلیحضرته! مشرفه سوم، راځئ؟

تر ناستي او روغبړ وروسته شاه محمود لوی ګردي بالښت ته څنګ ایله کړ. خپل تور غوړ ورېښتان یې په ګوتو تر غوږو واړول او رېدي ته یې وکتل:

- خیریت وو؟... ډېر وځنډېدې؟

رېدي خولې ته موټ ونیو. نرمه غاړه یې تازه کړه او د اصفهان د مشکلاتو ځیني کیسې یې ورته تیري کړې. تر کیسو وروسته هغه چوپ سو او د مخامخ غره څوکي ته یې لوړ وکتل. د غره د څوکي پر لویدیځي خوا تر لمر لوېدو وروسته ژړه ټپله ښکارېده.

تر لنډي چوپتیا وروسته رېدي شاه محمود وپوښت:

- اعلیحضرته! اصفهان ته دي د حملې اوازې راتلې:

هغه لاندي مځکي ته وکتل:

- که د خدای نصرت را سره وو، نو همداسي مو نيت دئ!

تر لنډي چوپتيا وروسته يې رېدي ته له برمه ډکي ستر ګي ور پورته کړې او نرۍ موسکا يې وکړه:

- ته مي د همدې له پاره راغوښتی يې!

رېدي چي څه ويلو ته ځان جوړاوه، شاه محمود پسي زياته کړه:

- ستا مشکل ما په پام کي نيولی دئ... تا له ځان سره نه بيايو، خو دلې يو مسئوليت درسپارو.

رېدی د هغه وروستۍ خبري انديښمن کړ. نه پوهېدی، چي څنګه له توقع برعکس هغه ته له لښکر سره د تلو وواييي. دی لا په چورت کي تللی وو، چي د شاه محمود ږغ يې واورېد:

- د دې له پاره چي تېر وار ته ورته کومه کانه تکرار نه سي، نو موږ ځيني کسان له شاه حسين سره د کومک له پاره په نظر کي نيولي دي... په هغو کي يو ته يې.

رېدي د دې له پاره چي شاه محمود بل شک پر و نه کړي، د هغه په ستر ګو کي ستر ګي ور ښخي کړې:

- اعليحضرته! اجازه ده، چي يو عرض وکړم؟

- ولي نه!

رېدي په متانت وويل:

- که زما زړه او ارادې بل څه ويل؟

- څنګه؟

- زما زړه دئ، چي زه هم ستاسي ولاړ سم!

شاه محمود څو شيبې هغه ته په ځير، ځير وکتل. تندی يې

ورین سو:

- ښه؟ دا خو ښه خبره ده.

بیا یې هغه وپوښت:

- خو ودي نه ویل، چي پخوانی نظر دي څنګه واوښت؟

رېدي لاندي وکتل. بیایې د بغل کړوندو ته نظر ور واړاوه. شېبه وروسته یې شاه محمود ته وکتل:

- اعلیحضرت ته څه ووایم؟ د دې پوښتني جواب ډېر سخت دئ!

هغه د مخبرۍ د موضوع د پټولو په خاطر د میني د خبري د را پورته کولو هڅه وکړه او په موسکا یې زیاته کړه:

- اعلیحضرت ته! په مناسب وخت به دي له موضوع خبر کم.

وروسته یې د موضوع د اړولو هڅه وکړه:

- اعلیحضرت ته! د اصفهان پر خوا حرکت کله دئ؟

- سبا نه بل سبا!

- ښه داسي ژر؟

- هو.

- سمه ده.

د لښکر کشۍ لنډي مودې یې ګروم ور لږ کړ، خو پر زړه یې لا د مخبرۍ د سختۍ ګرز پروت وو.

څو شیبې دواړه خاموش ول. وروسته د شاه محمود خوله وښوریده:

- ته، ماښام له پلار سره خبره یاده که... که یې سلا نه وه، نو ببر ته به دي خپل مسئولیت در وسپارو... او که یې سلا وه، نو یو بل درونډ مسئولیت درسپارم.

د هغه وروستۍ خبري بیا اندېښمن کړ، خو څه یې نه وویل. لږ

وروسته یې له شاه محمود څخه اجازه وغوښته.

***

دوې ورځي وروسته سهار لمر خاته مهال ښځي او کوچنیان د خپلو کلاوو لوړو برجونو او بامونو ته ختلي ول. دوی زهیر، زهیر د ښار بېلابېلو خواوو ته کتل. د ښار فضا د آسونو د پښو د دوړو ګرز نیولې وه او له ټول ښاره د دوړي بوی پورته کېدی. د ښار ډېري سیمي له پیاده او سپرو سرتېرو ډکي وې، خو لویه ګڼه، ګوڼه د نارنج د لویې دروازې په خوله کي جوړه وه.

رېدی د کلا په برج کي ناست وو. هغه د خپل راسته لاس بټه او منځوې ګوتي پرلپسې څو واري خپل کوچني زوی ته وجنګولې. له ګوتو کړپی پورته سو. کوچني خوله ویته کړه او د مور په غېږ کي سره ورښورېد. زینبي په غېږ کي ورسره کوچني ته وکتل او سوړ اسویلی یې وکیښ. هغې رېدي ته زهیر وکتل. هغه سترګي ورڅخه واړولې او د ښار د ګڼي ګوڼي په ننداره سو.

دواړه چوپ ول، خو دې چوپتیا د دواړو د زړونو د بېلابېلو اندېښنو خبري کولې. په یوه زړه کي د خپل نیم وجود جګړې ته د تګ او بېلتون اندېښنې او په بل زړه کي د یو لوی ازموینښت اندېښنې.

رېدي د نارنج ماڼۍ مخ ته ګڼي، ګوڼي ته وکتل. ګڼه ګوڼه یو دم پر ښور راغله. یو سرتېری له ګڼي ګوڼي څخه راووت او د دوئ د کلا پر لور راغی. رېدي زینبي ته وکتل. هغې مخ واړاوه. ده یې پر چپه باړخو د اوښکو لنده لیکه ولیده. دی ور تېر سو د هغې د غېږ کوچني یې مچ کړ او دې د باړخو لیکه یې په خپل ورغوي ور وچه کړه:

- زینبي! صبر او همت په کار دئ!

د هغې ژړا لوړه سوه او په ګنګوره ژبه يې وويل:

- ته جنګ ته ځې... جنګ سرونه خوري!

خپل چپه پلو يې پر سترګو ونيو:

- په لوږه، تنده... غريبۍ... خوارۍ کي به څوک... صبر... وکي... خو په دې... په دې کي څوک... څوک څنګه صبر او...

د هغې خبري ژړا لاندي کړې.

د رېدي ستونی ډک سو. ور تېر سو. هغه يې پر تنذي مچ او له برج څخه د کلا غولي ته تا سو.

د آس قيضه يې د کلا په غولي کي د ولاړي درختي له تنې څخه خلاصه کړه. د ډال، توري، غشي او نورو شيان تړلې توبره يې ورسره واخيسته. د مور او پلار لاسونه يې ور مچ کړه او له کلا ووت.

زينبه په تلوار بيرته د کلا برج ته وختله. هغې له برج څخه رېدي ته وکتل. رېدي پر آس پښه واړوله. له هغه بل سپاره سره پر څنګ سو او لږ وروسته د زينبي له نظر څخه د نارنج مانۍ په ګڼه ګوڼه کي ورک سو.

د سرتېرو ګڼه ګوڼه د ښار د شمالي دروازې پر خوا ور ماته سوه. سپاره يو په بل پسي د ښار له شمالي دروازې څخه وتل. دوئ ورو، ورو کمېدل. زينبي تر ډېره هڅه کوله، چي د سرتېرو په ګڼه ګوڼه کي د رېدي څرک ولګوي خو کله چي وروستی سرتېری هم د ښار له دروازې ووت، نو څو د بې وسۍ او مايوسۍ اوښکي يې توی کړې.

له يوه لوی او مست ږوږ وروسته پر ښار يوه مايوسونکې چوپتيا خپره سوه. په ښار کي سره صحنه سوه.

***

# درېیم څپرکی

هوا ګرمه وه. افغان لښکر څو ورځې پرلپسې د رېګ په سوځونکې دښت کې سفر وکړ. د دې سفر پر مهال د هوا د ګرمۍ له امله افغان لښکر ته یو شمېر انساني او حیواني تلفات واوښتل. پر دې تلفاتو او سرېیا سربېره په افغان لښکر کې د ځینو کسانو جوش او جذبه تر اندازې زیاته قوي وه. دوی دې ته لېواله ول، چې بې له دمې پر راتلونکې ښار حمله ور وړي.

کله چې افغان لښکر له یوه ستومانه سفر وروسته بم کلا ته نژدې سو، نو د دمې تکل یې وکړ. دوی د کلا شاوخوا واړول.

ماښام وو. د بم کلا د نیمې سپوږمۍ په تته تیاره کې د اسیر سرتېري غوندې مایوسه او بې وسه ښکارېده. له لوړو برجونو او هسکو دېوالونو یې پر تم الوتی وو.

رېدی له یو بل سرتېري سره له خپلې خېمې راووت. پر شاوخوا سیمه یې نظر تېر کړ. د بم د کلا په ختیځه څنډه کې یو لوی لښکر اړولی ول. تر لیرو، لیرو ځایونو د سرتېرو خېمې او آسونه ښکارېدل.

ملګري يې ده ته وکتل:

- ياره دا لښکر کشي هم څونده برم او پرتم لري!

رېدي هغه ته مصنوعي موسکا وکړه او لاندي دمانده پر خواورسره رهي سو.

په مانده کي روښي او به رواني وې. دی پر يوه ډبره ملګري ته مخامخ کښېناست. پايڅې يې ور پورته کړې. پښې يې مانده ته ور وڅړولې او د شمال لوېديځ د غرونو په ټيټو څوکو کي يې سترګي ښخي کړې. په ذهن کي يې ګډ وډ چورتونه ور تېر سول. يو وار يې زړه سو، چي وزرونه وکړي او په څو ثانيو کي تر اصفهانه ورسيږي. بيا يې له صفوي حکومت سره کړی تعهد او د شېرعلي ضمانت ور پر زړه سو. دې چورت يې اندېښنې بيا تازه کړې.

ملګري يې چي کله په چورتونو کي غرق وليد، نو يوه شګه يې اوبو ته ور وغورځوله. جړوب سو. د اوبو يخ څاڅکی د رېدي د پزي پر سر ونښت. هغه ور بېرډېد او بيا ملګري ته موسکی سو:

- يخ وو، وې بېرولم!

ملګري يې ور غبر ګه کړه:

- چورتي رامعلومېږې؟... خيريت خو به وي؟

رېدي څه و نه ويل. هغه بيا وپوښت:

- څه مشکل خو به نه وي؟

رېدي نری موسکا وکړه او هغه ته يې وکتل:

- نه!... مابت خانه ... هيڅ مشکل نسته.

- ګوره رېديه ياره! زه له زړه هيله درڅخه کوم...

رېدي مابت ته په ځير وکتل. هغه تر لنډي چوپتيا وروسته پسي

وویل:
- هیله داده، چي ته باید ماته د پخوانۍ ملګرۍ له مخې هر څه
سپین ووایې! او هر مشکل چي وي، له ما سره یې شریک کړې...
رېدي نرۍ مصنوعي موسکا وکړه او وې ویل:
- دې ته په چورت کي یم، چي پر کلا به حمله څه وخت کوو؟
مابت په تعجب ورته وکتل:
- رښتیا همدې ته په چورت کیې؟
- هو!
- ډېر تلوار دي دئ؟
- هو!
- ولي؟
رېدي اصلي خبره پټه کړه:
- چي اصفهان ته ژر ورسیږو!
مابت هغه ته ښه ځیر سو او وې ویل:
- پوه نه سوم؟
رېدي له اوبو څخه پښې ورپورته کړې. د شمال لویدیځ پر غرونو
یې نظر واچاوه او له یوه ساړه اسویلي سره یې وویل:
- که خدای کول هورې به په هر څه پوه سې!
بیا یې لنډ پسې وویل:
- نو ستا په فکر حمله به کله شروع کو؟
مابت رېدی له ځان سره ولاړ کړ او د خېمو خوا ته د تګ پر مهال یې
ورته وویل:
- زه چي څونده غوربدلی یم نو اعلیحضرت ژر د حملې نیت لري!

او بيا يې اند ښمن پسې وويل:

– خو ستا په کيسه سم پوه نه سوم؟...فکر مي دربند سو... سمه کيسه به راته کوې، که نه نو خدای خبر څه، څه فکرونه وکم!

– سمه ده، دا کيسه اوږده ده... پر کراره يې بيا درته کوم.

***

ځانښت مهال وو. افغان لښکر د بم پر کلا يرغل ور ووړ. په زرونو سرتېرو د کلا پر برجونو او نورو برخو د غشو او توپونو باران جوړ کړ. هري خوا ته د آسانو د پښو دوړي او د توپونو لوخړي پورته سوې. دوړو او لوخړو د کلا د يوالونه او برجونه په خپله غېږ کي واخيستل.

کله چي جګړه ښه توده سوه، نو رېدی له څو نورو سرتېرو سره د کلا پر شمالي برج ورغی. دغه برج د کلا په شمالي څنډه کي پر يوه لوړه تپه جوړ وو. د برج د لوړوالي له امله سخته وه، چي برج دي په اسانه ونيول سي.

د کلا شمالي برج په توپونو نيم له منځه ولاړ. رېدي پر برج د ور پورته کېدو تياری ونيو. کله چي رېدی له خپلو ملګرو سره پر برج د بريد له پاره چمتو سو، نو خپلو څو نورو ملګرو ته يې وويل:

– موږ پر برج ورخېژو!... تاسي غشي چمتو کړئ!

هغوئ برج ته زينې کښېښودې. کله چي د برج تر نيمايي پوري ورسېدل، نو د برج له سره يو وار بيا غشي پر واورېدل. يو غشی د رېدي پر موزه وموښت. غشی تر موزه ووت او د زينې په لاستي ننوت. موزه له زينې سره وګنډل سوه. هغه څو پلا زور ورسره وکړ، خو جلا يې نه کړه. ښپه يې له موزې وکښه او لڅي ښپې پر زينه ور پورته سو.

دښمن لا څو غشي نور نه ول، ويشتلي، چي له لاندي څخه پر برج

د غشو باران جوړ سو. د برج د دېواله له څوکي څخه شګي او خاوري وبادېدې او ځای، ځای لويه او کوچنۍ دوړه پورته سوه.

دوه درې پلا نور پر دوی له لوړي څخه د برید هڅه وسوه، خو داچي د برج پر ساتونکو به له لاندي د غشو باران جوړ سو نو به هغوی ژر بېرته پټ سول.

څو شېبې وروسته رېدي د کلا پر شمالي برج د افغان لښکر بیرغ ورپاوه. کله چي نورو افغانانو پر لومړي او تر ټولو سخت برج د خپل لښکر بیرغ ولید، نو وینه یې لا پر جوش راغله او په خورا جذبه یې د کلا پر نورو برجونو په شدد حمله وکړه.

د افغانانو تر نیمایي ډېر لښکر لا برید ته چمتو ولاړ وو، چي د کلا پر ټولو برجونو د افغان لښکر بیرغ ورپېد او د بم کلا د افغانانو تر واک لاندي راغله.

د ښار خلکو ترهېدلي، ترهېدلي افغانانو ته کتل. که څه هم افغانانو د هغوی ترهېدلي نظرونه په موسکا ور جوابول، خو هغوی د بلاوو په سترګه ورته کتل.

په کلا کي خورا زیات جنګي اسباب او خوراکي مواد د افغانانو لاس ته ورغله.

***

شاه محمود هوتک چي د بم کلا په بشپړه ډول رام او تر نظم لاندي راوسته نو نورالله خان ته یې د اداري له پاره ور وسپارله او خپله له لښکر سره د کرمان پر خوا وخوځېد.

افغان لښکر چي د کرمان د ښار څنډو ته ورسېد، نو د ښار د شاوخوا سیمو خلک شاه محمود هوتک ته تابع سول. هغوی د ده د

لښکر هر کلی وکړ، خو خپله د ښار کلا چي د لطف علي خان په لاس کي وه، لا پاته وه. افغانانو د ښار په څنډه کي واړول ، تر څو دمه وکړي او پر ښار د برید پلان طرحه کړي.

ماځیګر رېدي په خپله خېمه کي څنګ وهلی وو. یو سرتېري د خېمې پرده په دوو ګوتو وتړپول:

-اجازه ده؟

-هو، راځئ!

تر روغبړ وروسته سرتېري رېدي ته وکتل:

-رېدی تاسي یاست؟

-هو، خیریت وو... راځئ کښېنئ!

هغه پر ځیګر د درناوي او منني په دود لاس ونیواو وې ویل:

-اعلیحضرت راولېږلم... ول غواړم درسره ووینم!

رېدي اندېښمن وپوښتل:

-خیریت وو؟

-نور نه پوهېږم!

رېدی ناکراره پر خپل ځای سره وښورېد:

-کله؟

-ول که اخته نه وو، همدااوس ښه وخت دئ.

رېدي د زړه په زور وویل:

-ښه سمه ده، نو درځه!

او له هغه سره له خېمې ووت.

***

رېدی چي خېمې ته ورننوت، نو د زړه دربی یې تېز سو. په خېمه

کې محمود هوتک ته مخامخ یو پوخ سړی ناست وو. له څېرې د ځلوبښت کلنۍ په شاوخوا کې وو. توره ږیره او چنګ بریتونه یې ول. ربدی د شاه محمود څنګ ته کښېناست. له هغه سره تر روغبړ وروسته یې مخامخ ناست کس ته وکتل. هغه د غټو سترګو له پاسه پنډې وروځې پورته کش کړې او په موسکا یې له ربدي سره روغبړ وکړ.

شاه محمود هوتک ربدي ته وکتل:

- سپه سالاره! دی ربدی نومېږي... زما ملګری دئ... ډېر وخت مو شمشېر بازي سره کړې ده... کله مې مات کړی دئ او کله یې مات کړی یم... او هغه کس دئ، چې تر ټولو مخکې یې د بم د کلا شمالي برج ته د افغان لښکر بیرغ پورته کی...

سپه سالار سیدال خان ناصر په تلوسه د ربدي په څېره کې سترګې ښخې کړې:

- ښه! نو دی خو ډېر مېړه سړی دئ!... نه پوهېږم، چې تر اوسه مو ولې نه سره پېژندل؟

شاه محمود سپه سالار ته سترګې ور واړولې:

- دی ډېر کله پر وطن نه وي...

- ښه!

- اوس مې د دې له پاره راوغوښتی، چې سره وپېژنئ... موږ باید ،ده د توري درناوی وکو... زه د ده پر توره باور لرم...

شاه محمود د ربدي پر اوږه لاس کښېښود:

- موږ باید د ده له یو بل کمال څخه هم ګټه واخلو. ده ته باید یو ل مهم مسئولیت هم ور وسپارو...

شاه محمد رېدي ته وکتل او بیا یې زیاته کړه:

خو مخکې تر هغه مسئولیت باید یو بل مسئولیت هم ادا کړي. زما

په فکر دا به بده نه وي، چې د کرمان په حمله کې یو بل لوی مسئولیت

هم ده ته وروسپارو... البته که د ده خوښه وي!

سپه سالار سیدال خان ناصر وویل:

– اعلیحضرته! ما هم غوښتل، چې همدا خبره وکم...

تر لنډې چوپتیا وروسته یې پسې وویل:

– زما په فکر ښه به دا وي، چې د کلا د یوه برج قومانده ده ته ور

وسپارو!

رېدي سر لاندې ځوړند کړ. څه یې ونه ویل، خو کله چې پوه سو،

چې دوی یې جواب ته منتظر دي، نو یې شاه محمود ته مخ ور واړاوه:

– دا ستاسو پېرزوینه ده... زه فکر نه کوم، چې زما توره دې د

دونده ستاینو مستحقه وي... خو داچې تاسو مناسبه ګڼئ، نو زه هر

امر او مسئولیت ته اماده یم!

خېمې ته له دباندې څخه د یوه سرتېري له خوا د ماښام د آذان

بڼغ راغلی. سپه سالار له ولاړېدو سره وویل:

– ستاسو په اجازه!

شاه محمود هم ولاړ سو. له خېمې څخه د وتلو پر مهال یې د رېدي

لاس کښېکښېښی او ورو یې وویل:

– له یوې کیسې دې خبر سوی یم!

د رېدي وجود ولړزېدی:

– ده کمې کیسې؟

– ته خپله پوهېږې! ته راځه بیا خبره پر کوو.

هغه د اند ښښني او وار خطايي له ګډ، وړ احساس سره له شاه محمود سره په ماجت ننوت.

***

څو ورځي وروسته ماځيګر رېدی خپلي خېمې ته مخامخ پر يوه غونډۍ ناست وو، چي د خېمې مخ ته يې يو سرتېری له آسه راکښته سو. هغه د خېمې پرده د لاس په چپه خوا وترپول او بږغ يې کړه:

- څوک سته؟

کله چي د خېمې له دننه چا جواب ور نه کړ، نو يې شاوخوا وکتل. رېدي لاس ورته وښوراوه:

- زه درځم!

مخکي له دې چي رېدی د خېمې پر لور څو قدمه لاندي واخلي، سرتېري پر آس پښه واړول او غونډۍ ته ور پورته سو. د رېدي د زړه دربی تېز سو.

سرتېری د غونډۍ پر سر له آسه کښته سو. د روغبړ پر مهال يې جېب ته لاس کړ. هغه له جېبه يو بند پاکټ راوکيښ او رېدي ته يې ونيو. د پاکټ څنډې خيرني وې. يو کونج يې ور اوښتی وو. د پاکټ پر څټ په پاړسي ليکلي وو "د شېرعلي له طرفه دي رېدي ته ورسيږي" د رېدي وجود بې سبکه غوندي سو. سرتېري ته يې وکتل:

- دا چا درکړ؟

- زه څو ورځي مخکي اعليحضرت د يو پيغام له پاره کندهار ته ولېږلم... پر لار له يو کاروان سره مخ سوم... دوی له اصفهانه کندهار ته مالونه بار کړي وه... له کاروان سره زما د سوداګرۍ د وخت يو ملګری هم وو. هغه ويل له اصفهانه مي يو خط امانت راوړی دئ...

هغه ته نه پېژندلې، نو يې خط ماته راوسپارى...

رېدى هيجاني سو، اندېښمن غوندي يې لومړى خط او بيا سرتېري ته وکتل:

ـ خداى دي خير درکي! په زحمت سوې... ته راځه خېمې ته يو چاى به وڅيښو!

ـ الله مو وساته! ځم!

سرتېري لاس ورکړ. له غونډۍ څخه د آس د قدمونو موزون ږغ کښته سو.

رېدي د زړه له دربي سره په بې واکه لاسو ليک خلاص کړ. د ليک پر متن يې نظر واچاوه. تر سلامو وروسته ليکلي ول:

" رېديه زويه! زه نه پوهېږم، چي څه درته وليکم. له څه مودې راهيسي په پرلپسې ډول د حرمسراى د سرتېرو له خوا ځورول کېږو. دوى وايي، رېدى خپله موافقه سمه نه عملي کوي. رالېږلي راپورونه يې لږ او ناسم وي.

رېديه زويه! د خداى له پاره تر خپله وسه يو څه وکړه. خبرونه ډېر را لېږه او کوښښ وکړه، چي دقيق وي. زه له ځانه ډېر شرمېږم، چي تاته دا کرښي ليکم، خو دې خلکو مي ژوند ډېر را تريخ کړى دئ!

ستا د مرستي په هيله

شېرعلي"

د رېدي زړه څړيکه وکړه. ستونى يې را ډک سو. سترګي يې کښېکښې. پر کاغذ دوه لانده څاڅکي ولوېده. څاڅکي رانه ول، خو شېبه وروسته د خط تور رنګ لکه خړي وريځي په اوښکو کي راڅرګند

سو.

رېدي د شمال لوېديځ غرونو څوکو ته وکتل. هغه د نرۍ وريځې په څپو کې خوپ ول. ستر گې يې وموږلې. گوتې يې لندې سوې.

***

سهار په خړه يو قومندان ته څو سرتېري تيار سئ ولاړ ول. دوی پر کرمان د حملې له پاره زغري اغوستي وې او ډالونه يې په لاس کې ول. قومندان په احساساتي ژبه هغوی ته لارښونې کولې. د خبرو په پای کې قومندان وويل:

- اماده ياست؟

سرتېرو په يوه خوله په لوړ آواز جواب ور کړ:

- هو!

سرتېرو پر آسونو پښه واړول او د خپلو ټوليو پر لور ورغلل.

لږ وروسته د کرمان د ښار پر کلا بريد پيل سو. له هرې خوا څخه په زرهاوو افغانانو پر کلا يرغل ور ووړ.

رېدی چې د کلا جنوبي برج ته ورسېد، نو خپلو توپچيانو او غشو ويشتونکو ته يې پر برج د غشو او توپونو د ويشتلو امر ور کړ. پر برج د غشو او توپونو باران سو. له برجه توري او خړې لوخړې پورته سوې. پر نورو برجونو هم د توپونو آوازونه راغلل. فضا د  الله اکبر  نارو او د توپونو ږغونو پر سر واخيسته.

ښه تر ډېره پر کلا باندې د توپونو او غشو اور بل وو. رېدي خپل يو ملگري ته پر برج د ورتلو امر وکړ. وروسته هغه له خپلو لسگونو نورو سرتېرو سره پر برج حمله ور وړه.

دوی برج ته زينې کښېښودې. کله چې د برج تر نيمايي پورې

ورسېدل، نو ناڅاپه د کلا له برج او شاوخوا دېوالونو څخه د غشو او توپونو وارونه پر وسول. رېدي په اوږه کي دوه غشي وخوړل. نور ملګري يې هم وويشتل سول. د بريدګرو د توپچي او غشو ويشتونکو له لوري ډېر سرتېري له منځه ولاړل. هغه لا له څو نورو سرتېرو سره برج ته د ختو په حال کي وو، چي د سپه سالار له خوا د شاتګ امر وسو. د شاتګ پر مهال څو نور افغان سرتېري هم وويشتل سول.

***

د حملې په سبا چاښت مهال يو طبيب د رېدي اوږه ورپټۍ کوله. له دباندي څخه د څو سرتېرو ږغونه راغلل. د خېمې پرده وترپول سوه او يو دروند ږغ راغلی:

- اجازه ده؟

طبيب آرام يو بغل ته سو. هغه ته يې وکتل:

- اعليحضرت دئ!

رېدی طبيب ته مسکی سو او شاه محمود ته يې جواب ورکړ:

- اعليحضرت ته! مهرباني!

شاه محمود رېدي ته مخامخ کښېناست:

- رېديه څنګه يې؟ درد خو به ډېر نه وو، د شپې؟

- يا، جوړ يم!

طبيب د تللو پر مهال لاس پر نامه سو:

- نور امر او خدمت؟

- ښاد اوسې!

کله چي طبيب له خېمې ووت، نو څو شېبې چوپيا خپره سوه. وروسته شاه محمود رېدي ته وکتل:

- څه فکر کوې، تلوار مو ونه کړ؟

- پوه نه سوم، اعلیحضرته! ولې؟

- بېځايه تلفات مو ورکړل!

- اعلیحضرته! موږ په جنګ راوتلي يو... او جنګ سرونه غواړي...

شاه محمود جدي سر وښوراوه:

- ته ښه وايې... رښتيا هم جنګ سرونه غواړي... خو يو مشر بايد تر هر څه سر وساتي او د سرتېري سر خپل سر وګڼي... که دی داسې وکړي، نو به يې د سرونو پر ځای په تورو ګټلی وي.

رېدي د تائيدسر وښوراوه:

- رښتيا هم!

شاه محمود وپوښت:

- ستا په فکر د سرونو د مخنيوي له پاره بايد څه وکړو؟

رېدي د خبمې سرته وکتل. له لنډ چورت وروسته يې وويل:

- اول خو بايد د دښمن سويه او روحيه را معلومه وي!

- دا معقوله خبره ده!...

لنډ چوپ سو:

- په دې خو اوس هم اخته يو، خو مناسب کسان به د کمه کو؟

- هو، خلک نو په کار دي!

شاه محمود بيا وپوښت:

- نو خلک به د کمه کو؟ دا اوس د اصفهان له پاره يو کس ته سخته اړتيا ده!

رېدي سر لاندي ځوړند کړ. شاه محمود زياته کړه:

- که اصفهان ته د تګ له پاره ستا اړتیا پیدا سي؟
رېدي اندېښمن وویل:
- په اصفهان کي خو زه بلد یم، خو...
هغه خبره پرې کړه. شاه محمود موسکی سو:
- د خوځای دې و نه وایه؟
رېدي خبره واړوله:
- اعلیحضرته! چي تاسي یې مناسب ګڼی، نو اماده یم!
شاه محمود تر لنډ فکر وروسته وویل:
- ما ته له اوله د همدې له پاره په نظر کي نیولی وې.
رېدي زړه نا زړه ور غبرګه کړه:
سمه ده!
شاه محمود د تګ پر وخت هغه ته موسکی سو:
- تر اصفهانه دي، د اصفهان کیسه را په یاد سوه... خو اوس نه، بیا یو بل وخت.
رېدی زړه نا زړه ور ته موسکی سو او هغه ووت.

***

کله چي د کرمان د ښار پر کلا د برید له امله افغان لښکر ته زیات تلفات واوښتل او افغانان له کلا څخه بېرته را پر شا سول، نو دوی د کلا پر محاصره سلا وکړه. دغي محاصرې څه موده دوام وکړ. د محاصرې د اوږدوالي له امله ځینو افغانانو شکایت وکړ. دوی غوښتل چي د کرمان د ښار پر کلا بله حمله هم وکړي او د اصفهان پر خوا مخ ته ولاړ سي. د نورو کسانو په شان رېدی هم له دې محاصرې څخه ناخوښه وو. که څه هم د هغه د اوږې ټپ لا پوره نه وو جوړ، خو هغه ټینګار کاوه، چي

باید مخکې ولاړ سي.

د محاصرې څلورمه ورځ وه. غرمه مهال رېدی خپلې خېمې ته روان وو، چې پر مابت یې سترګې وموښتې. هغه په ویره خوله مخامخ ور روان وو. کله چې ده ته ور نژدې سو، نو یې وویل:

- یو مهمه خبره مې در ته راوړې!

د رېدي تندی ورین سو:

- څنګه؟

- ته راځه، د کراري خبره ده.

په خېمه کې د ناستې پر وخت مابت رېدي ته وکتل:

- خبره در ته کوم خو د خبرې تر مخه باید ستا کیسه واورم... ځکه ستا د کیسې د اورېدو دپاره تر دې بل مناسب وخت نه پیدا کیږي.

رېدي ناپامه وپوښت:

- کمه کیسه؟

د هغه نرې بریتونه سره ولاړل:

- ښه، لکه چې څو کیسې دي؟

رېدی پر خپله خبره پښېمانه سو. د خبرې د جوړولو هڅه یې وکړه:

- ښه، هغه کیسه!

هغه په خندا ور غبرګه کړه:

- هغه خو به راته کوې، خو لکه چې بله کیسه هم سته!

- یا، یا فکر مي نه وو.

- ښه نو هغه شروع که!

- هغه خو ډېره اوږده ده.

- پروا نه لري، وخت سته.

- ښه نو اول به د چایو غم وخورو.

د رېدي له دې خبري سره مابت څست ولاړ سو، چایجوشه يې واخیسته او له خیمې ووت.

ګړی وروسته يې د شنو چایو ډکه پیاله د رېدي مخ ته کېښښووه. هغه د پیالې ولاړېدونکي توښ ته وکتل او وې ویل:

- تا ول کیسه راته وکه؟

- هو.

- موږ خو سوداګر خلک یو. هره ورځ مو یوه کیسه ده!

هغه په خندا ور غبرګه کړه:

- بس هغه نامې يې راته وکي!

- نو غوږ سه! یاره خدای دي مي غاړي نه بندوي، اووه کلن، اته کلن به وم، چي یوه شپه مي پلار راته وویل:

- رېدیه زویه! اصفهان ته ځې؟

- چیري؟

- یو لیري وطن ته، په ډېرو شپو!

مخکي له دې چي پلار ته څه ووایم، انا مي په غصه له پلاره مخ واړاوه او په خشکه يې وویل:

- دا پوچک نو د دې دئ، چي ته يې اصفهان ته بیايې؟

مالکه دانا خبره چي مي هیڅ اورېدلې نه وي، پرلپسې څو واره پلار ته وویل:

- هو، ځم بابا، هو ځم...

په هغه شپه مي پلار څه ونه ویل، خو له هغه وروسته چي به هره شپه راغی، نو ما به د اصفهان د تګ خبره وریادوله. وروسته چي کله

نو په ناغیرېو مي شروع وکړه.
پوه سوم، چي خبره مي ځای نه نیسي، نه خوره. که څه هم مابه په
څو شپې پرلپسې مي پر سترخوان ډوډۍ نه خوره. که څه هم مابه په
پټه د سترخوان په وچه اور بشینه ځان مړاوه، خو کور به راسره اوګاره
وو. د دوی سره به زما د لوږي غم وو. آخیر زما دې چم ځای ونیو. یوه
شپه مي انا پلار ته په درد وویل:
- دا دریمه شپه ده، چي دا هلک پر سترخوان نه دئ کښېناستلی.
هوا دي ور ولاړه کړه، اوس یې نو درسره بوزه!
لنډه داچي بیا هغه شپه هم راورسېده، چي په دا سبا سهار موږ
اصفهان ته حرکت کاوه.
له خېمې څخه دباندي د خلکو ږوږ راغی. رېدي مابت ته وکتل او بیا
دواړه له خېمې ووتل. له دوی څخه څو خېمې وړاندي څو سرتېري
سره راټول وه. د دوو سرتېرو پر یو څه شخړه وه او نورو یې د ګوابښ هڅه
کوله. مابت رېدي ته وکتل:
- که ډېر له زوره ډک دي پر کلا دي ورسي... راځه پر بېرده یې،
خپله کیسه دي کوه.
په خېمه کي له ناستي سره سم رېدي وویل:
- هغه شپه مي له خوښیه تر ډېره په ویښه تېره کړه او سهار وختي له
یوې کوچنۍ قافلې سره اصفهان ته روان سوو.
اوس مي هېر دي، چي د سفر څومه ورځ مو وه. غرمه مو راسره
وړي خواړه وخوړل. ماپښین قضا مهال مي نابېره د پلار ښه والوته. بیا
یې خوا پسي وګرځېده. تر اصفهانه چي رسېدو، پلار مي له ولاړي
لوېدلی وو. د خوا ګرځي له امله یې څو ورځي پرلپسې سم شی نه وو
خوړلی.

خیر لنډه داچي بلاخره له یوه اوږده سفر وروسته مو د اصفهان د ښار پر لمر خاته دروازه سترګي ولګېدی. د ښار دروازې د مسافرو د ستړیا اثار ور پیکه کړل.

د ښار د دروازې په خوله کي کاروان تم سو. یو سپین ږیری مي پلار ته راتېر سو او وې ویل:

–رحیمدله! ښار ته خو دا دئ را ورسېدو... خو اوس دا ووایه، چي د کمي خوا اراده لرې؟

پلار مي په زحمت خپلي بې سبکه سترګي هغه ته ور واړولې او وچي پترې نیولي شونډي سره جلا سوې:

– خدای دې ایوزونه (عوضونه) درکي! ډېر راسره تکلیف سواست... بس نور تاسي خلاص یاست... زه خپله چاره کوم.

– رحیمدل خانه! دا خو د خدای پېښي دي... په دې کي به د تکلیف مکلیف خبري نه سره کوو. که نن پر تا ده سبا پر ما و پر بل ده... اوس ښه خبره دا ده، چي زما سره ولاړ سې... چي جوړ سوې بیا ته پوه سه او کار دي.

– خدای دي خیر درکي... زه د لوی پله سره یو اشنای لرم... کله چي اصفهان ته راسم، نو مدام اورې یم... بس لکه خپل کور داسي مي دئ...

قضا ماځیگر وو، چي موږ د یو کور غټي لرګیني دروازې ته ودرېدو...

رېدي د چایو غوړپ وکړ:

– کله چي مو د دروازې ځنځیر ور وشرنګاوه، نو له کوره یو غوښن هزاره نخشه سړی راووت. هغه لومړی ما او بیا زما پلار ته هېښ، هېښ وکتل. پلار مي د دروازې څنګ ته ځان ایله کړی وو. پلار مي په

زحمت د کور خاوند ته مغزی ور کوړ کی. هغه ته يې کتل او په زګېروي

يې وې ويل:

- شبر علي...

پلار مي لا خبره پوره کړې نه وه، چي هغه يو دم په غبږ کي ونيو. بيا يې هغه ته په ځير، ځير وکتل او څه يې وويل. هغه څو واري داسي وکړل. زه د هغو په خبرو نه پوهېدم. پارسي يې ويله، خو د دوئ د حرکاتو څخه دونده پوه سوم، چي ډېر سره ګران دي. وروسته پوه سوم، چي هغه مي د پلار ډېر ټينګ اشنای وو.

د پلار د ناجوړی د اوږدېدو له امله موږ څو مياشتي د هغه د اشنای کره پاته سوو. په اولو شپو کي خورا ديغ وم، ځکه هرڅه نابلده وه. د بازيو څوک مي نه درلودل. د آقا شبر علي يوه پنځه کلنه لور وه، هغه به کور نۍ هڅوله چي بازی راسره وکي، هر وخت به د بازيو له پاره راپسې وه. په اولو شپو کي مي چنداني بازی نه ورسره کولې، ځکه په ژبه نه سره پوهېدو، خو وروسته له يوې خوا ورسره عادت سوم او له بلي خوا مې د ژبي په ځينو تورو هم سر خلاص سو...

رېدي مابت ته وخندل:

- که کار لرې، نو کيسه به وروسته در ته وکم؟

- يا، يا خو اصلي کيسې ته اوس داخل سوې!

رېدی د چايو د غوړپ پر مهال هغه ته موسکی سو:

- بلاخره، په څو مياشتو کي مي د دوی ژبه دونده زده سوه، چي د هغې په ډېرو کمو خبرو به نه پوهېدم. کله چي يې په ژبه څه ناڅه پوه سوم، بيا نو داسي وخت هم راغی، چي ما او هغې به له سهاره تر مابنامه بازی سره کولې. هغه زلېخا نومېده. د پلار يوازيني اولاد وو. ډېره پر

گرانه وه.



بالاخره زه د زلیخا او د هغوی له کور سره دونده عادت سوم، چې د مسافرۍ په دې اوږده موده کې مې چنداني د پردیوالي احساس ونه کی. یوازي به هغه وخت کور را یادېدی، چې زلېخا به د خپلوانو کره په شپو ولاړه. زه به د هغې پسې دیغ وم. څو وارې مې داسي هم تر غوږ سول، چې هغې به هم د خپلوانو کره یادولم.

لنډه داچې پلار مې له څو میاشتو وروسته له ځایه راپورته سواو د ښه والي احساس یې وکی. موږ څو ورځې نور هم هلته پاته سوو. پلار مې سوداوې وکړې او نور د دې وخت وو، چې د خپل کور پر خوا مخ کو.

په هغه سهار چې موږ کندهار ته بېرته راروانېدو، دوی ټول تر زلیخا پورې وختي راویښ سوي وه. هغوی زهیر ولاړ وه او زموږ د سفر د بندوبست ننداره یې کوله. پلار مې آقا شیرعلي ته وکتل:

– اشنا د ژوند خواست کوه، وای چې سر وي، خولۍ ډېرې دي.

هغه مصنوعي موسکا وکړه:

– هو! ژوند دې وي.

زلیخا ماته را تېره سوه:

– بیا کله راځې؟

ما څه ونه ویل، خو پلار مې جواب ورکړ:

– راځو زویه، بیا راځو... څه وخت وروسته بیا راځو.

کله چې موږ له هغوی سره مخه ښه کول، نو د زلیخا په سترګو کې اوښکې ځلېدې. د هغې خوله بوڅه، بوڅه کېده او څو پلا پرلپسې یې راته وویل:

– ته مه ځه ...ته پاته سه...

څو کورونه وړاندي چي موږ بلي کوڅې ته گرځېدو، نو ما د وروستي پلا له پاره هغې ته مخ ور واړاوه. هغې د پلار پښه نیولې وه او مړ، مړ یې ژړل.

مابت چي غوږ پ وکړ، نور ېدي ته یې وخندل:

- یاره! ژوند دي کړی دئ!

رېدي مصنوعي موسکا وکړه:

- وای د جنگ خوږې خبري ساعت یې تریخ دئ!

- دا نو ته وایې!

هغه زهیر وویل:

- زه خو وام، خدای دي څوک له دې ازمویښته وساتي!

- ازمویښت؟

- هو، خیر ته اوس دا خبري پرېږده. کیسه واوره. له دې وروسته بیا اووه کاله پرلپسې زه له پلار سره اصفهان ته ولاړم. په دوهمه او دریمه پلا مي لا له هغې سره بازۍ کولې، خو وروسته به ډېر وخت یوازي د تېرو کلو نو پر یادو سره ږغېدو.

په آخري پلا چي د پلار سره اصفهان ته تللی وم، نو له زلیخا سره څو واره مخامخ سوم. هغه د پخوا په پرتله ډېره خاموشه وه. پخوا به یې تېر یادونه ټکي په ټکي یادول، خو د دې واري چي به ما څه وویل، نو دې به یوازي په نرمه موسکا د "هو" جواب راکې او زما په سترگو کي به یې سترگي رانښخي کړې.

رېدي سوړ اسویلی وکیښ او بیا یې کیسې ته ادامه ورکړه:

- له دې سفر وروسته موږ یو دم د اصفهان پر ځای د کرمان او ځینو ورو ښارونو سوداگرۍ ته مخه کړه. بیا شاوخوا پنځه کاله زه اصفهان

ته ولا نه ړم. په دې دوران کې ما ځان ته نوی کور او ژوند جوړ کی. د واده پر اتمه میاشت مې یو ځل د سوداګرۍ له پاره اصفهان ته مخه کړه. په دې سفر کې یوې خبرې ماته سخت تکان راکی، هغه داچې زلیخا تر اوسه زما په تمه ناسته وه. دې خبرې اول پر ما خاص تاثر ونه کی، خو کله چې له اصفهانه بېرته راتلم، نو دارادو نړۍ مې ولړزېده.

هغه بیا سوړ اسویلی وکیښ:

– نو دا وه د اصفهان کیسه!

مابت په خندا ورغبرګه کړه:

– یاره! زه هم باید د اصفهان سوداګري شروع کم.

رېدي زهیر ورته وکتل:

– نور به نو د اصفهان نوم نه رااخلې.

بیا یې لنډ پسې وویل:

– ښه نو اوس ته ووایه چې څه خبره دې راوړې وه؟

مابت تر ډېره رېدي ته موسکی تللی وو. وروسته یې وویل:

– ښه نو د زړو بازي ده! بس خدای دې پر چا نه راولي.

بیا یې لنډ پسې زیاته کړه:

– خبره دا ده، چې اعلیحضرت نن ماښام تر لمانځه وروسته غوښتی یې!

رېدی لا اندېښمن سو:

– پوه نه سوې، چې د څه د پاره؟

هغه له ولاړېدو سره وویل:

– یا ولا په دې زه هم پوه نه سوم، چې څه دې کوي.

هغه له خېمې ووت او رېدی د لا ډېرو اندېښنو چورتونو په مخه کړ.

***

د ماښام تر لمانځه وروسته څو کسه تر محمود هوتک را تاو ول. رېدی څو گامه ليري هغوی ته متوجه وو. لږ وروسته شاه محمود له دوو تنو سره د خپلي خېمې پر لور رهي سو. رېدي له پاته کسانو سره خدای په اماني وکړ او د هغوی پسي خېمې ته ورغی.

محمود هوتک رېدي ته هرکلی ووايه او په لاس يې څنگ ته کښېناستو اشاره ورته وکړه. په خېمه کي د څراغ ژړي رڼا د اشرف هوتک او سيدال خان ناصر گڼي توري ږيري او برېتونه برېښول. سيدال خان اشرف او شاه محمود ته وکتل:

- رېدی هم دا دئ راغلی!

شاه محمود جواب ورکړ:

- هو، ما را وغوښت، چي موضوع ورسره شريکه کو.

شاه محمود لنډ چوپ سو او بيا يې رېدي ته وکتل:

- رېديه څه حال دئ، اوږه دي څنگه ده؟

- ښه يم، اعليحضرته!... اوږه مي جوړه ده!

له شاه محمود سره تر لنډو خبرو وروسته هغه سپه سالار سيدال خان ناصر او اشرف هوتک ته د روغبړ له پاره وکتل. تر روغبړ وروسته په خېمه کي خاموشي خپره سوه. تر لنډي چوپتيا وروسته شاه محمود هوتک رېدي ته مخ ور واړاوه:

- رېديه! موضوع دا ده، چي لطف علي خان (د کرمان د ښار حاکم او ساتونکي) موږ ته د سولي شرطونه را لېږلي دي... ده ويلي دي، چي که موږ د کرمان د کلا تر محاصرې او نيولو تېر سو، نو هغه به موږ ته (٦٢٥٠) پونډه د تاوان د جبران په توگه راکي...

محمود چوپ سو. وروسته يې يو وار سيدال خان او بيا رېدي ته وکتل:

– داچي موږ او تاسي د کلا د خرابولو نيت نه لرو، نو د قوم د مشرانو سره تر سلا مشورې وروسته مو فيصله دا سوه، چي د کرمان د حاکم د سولي شرطونه ومنو او د (يزد) ښار پر خوا حرکت وکو...

هغه غلی سو او رېدي ته يې په داسي انداز وکتل، لکه د هغه نظر چي غواړي:

– تاسي مشران ياست!

د رېدي له دې خبري وروسته يو ځل بيا په خېمه کي خاموشي خپره سوه. له دباندي د سرتېرو خبري او کله ناکله دآسونو د تېرېدو د پښو ترپی راتلی. لږ وروسته محمود هوتک رېدي ته وويل:

– ښه چي داسي ده، نو اوس ستا د يو بل مسئوليت وخت رارسېدلی دئ!...

رېدی پر خپل ځای ناکراره سره وښورېد او د شاه محمود خبري ته غوږ سو:

– موږ دې ته اړتيا لرو، چي يو څوک اصفهان ته ولېږو او د دې کار له پاره تر ټولو مناسب کس ته په نظر راغلې...

رېدی چارزانو سو. بيا يې اوږه وګرول او له اندېښمنو چورتو سره هغه ته متوجه سو. شاه محمود چي د رېدي دا حالت وليد، نو خبره يې لږ واړوله:

– که څه هم په دې اړه موږ او تاسي مخکي خبري کړي دي، خو که بيا هم څه نظر لرې، نو ويلای سې.

هغه بيا اوږه وګروله:

- یا، چي تاسي مناسبه گڼئ، زه اماده یم، خو...!
شاه محمود هغه ته وکتل:

- مهرباني!
رېدي چارزانو تول کړاو له مصنوعي موسکا سره يې وويل:
- سمه ده، خاص مشکل نسته. يو دا چي ما هلته ډېر خلک پېژني
نو دا يوه اندېښنه ده!
مخکي له دې چي شاه محمود څه ووايي، سپه سالار سيدال خان
رېدي ته وکتل:
- دا کار د ټولو له پاره مشکل کار دئ! تر يو نابلده کس ته څکه دا کار
ښه کولای سې، چي هلته بلد يې او په لږ تدبير ځان ترې ايستلای سې.
شاه محمود د هغه خبري د سر په اشاره تائيد کړې او وې ويل:
- سپه سالار ښه ټکي ته اشاره وکړه او بل دا چي بل داسي کس هم
نسته!

رېدي په نه زړه له ناچارۍ څخه وويل:
- بس سمه ده، نو تاسي مشران یاست.
بيا يې شاه محمود وپوښت:
- اعليحضرته! ومو نه ويل، چي کله بايد دا کار وسي؟
- بس نو نور چي هر څونده ژر سفر ته اماده سې، هغونده ښه دئ..
- ياني سر له اوسه بايد امادګي شروع کم؟
- زموږ او ستاسي خير انشاء الله په داغه کي دئ.
دوی پر څو نورو موضوعاتو هم وږغېدل. وروسته رېدي خدای په
اماني وکړ او له خېمې ووت.

***

# شلورم څپرکی

ماښام قضا رېدی د اصفهان اخیري رباط ته ورسېد. په رباط کې د اصفهان ځیني کسان د هغه تر سترګو سول. نوموړي هڅه کول، چې په دې کسانو ځان ونه ویني. هغه د یو ګوښه ځای په لټه وو، تر څو هلته واړوي او شپه تېره کړي، خو ناڅاپه یې د شا له خوا د یو چا ږغ واورېد:

– رېدیه!

هغه ځان ناګمانه واچاوه او مخ ته تېر سو. هغه کس پسې راوځغستل او مخ ته یې ودرېد:

– رېدیه! ته دلته څه کوې؟

رېدي ځان ناګمانه واچوه او هغه ته موسکی سو:

– اوه! سخي علي د خیره، ته دلته څه کوې؟

– موږ څو کډې (همدان) ته روان یو... د آقا شېر علي کورنۍ هم راسره ده.

د آقا شېر علي د نامه په اورېدو د رېدي بدن ریښکي، ریښکي سو.

هغه يې په تعجب وپوښت:

- آقا شېرعلي هم درسره دئ؟!

- هو، هلته يې د پای د خوا په دوهمه جوگۍ کې اړولي دي...

رېدي شاته وکتل، چې بېرته يې مخ راواړوه، هغه وپوښت:

- زه دې ورولم؟

- نه، تشکر! زه خپله ورځم.

رېدی له هغه سره تر لنډو خبرو وروسته وړاندې تېر سو. هغه زړه نازړه د آقا شېرعلي دوی پر خوا ور روان وو. د رباط جوگۍ د نر او ښځو ډکي وې. کله چې هغه د رباط وروستيو جوگيو ته ورسېد، نو جوگۍ يې په ځير، ځير تر نظر تېرولې. بيا يې يو دم د آس مخ راوگرځاوه او بېرته ميده، ميده د رباط د سر خوا ته رهي سو.

هغه لا څو گامه مخته نه وو تللی، چې له ليري يې پر شېرعلي سترگې وموښتې. هغه د ده پر خوا راروان وو. ده هڅه کول، چې لار بدله کړي، خو هغه ورته متوجه سو. نور نو دی هم ناچاره پر ورغلی. کله چې سره نژدې سول، نو شېرعلي هېښ، هېښ ورته کتل، لکه باور چې يې نه راتلی. رېدی له آسه ورکښته سو. هغه يې په غېږ کې ونيواو وې ويل:

- اوس مې هم باور نه راځي؟

رېدي څه ونه ويل. هغه تر ډېره په غېږ کې ټينگ نيولی وو. بيا يې پر مخ مچ کړ او لاندي باندي يې ورته وکتل. رېدی له گډو وډو چورتونو سره چوپ ولاړ وو. آقا شېر علي يې د بريتو نريو سرو څوکو ته وکتل:

- خيريت خو دئ؟

رېدي لاندي وکتل. سترگي يې راپورته کړې. د هغه گردی روښانه مخ سپېره اوښتی وو. د مخ پوست يې گونجې کړې وې او تر سترگو لاندي هډوکي يې راوتلي ول. هغه ته ځان د ده د دې بدي ورځي د عامل په توگه ملامت ښکاره سو. له شرمه يې لاندي وکتل.

شېرعلي چي د ده دا حالت وليد، نو يې وويل:

- زويه! دا خو د تقدير پېښې دي، ډېر فکر به نه په بندوې!

رېدي د سر په اشاره د هغه خبره تائيد کړه. لږ وروسته هغه بيا وويل:

- زويه! د تېرو پسي سر مه گرځوه! د اوس خبره کوه، چي اوس څه کوې؟

هغه سر راپورته کړ او شېرعلي ته يې وکتل:

-آقا جانه! هغه د تقدير خبره ده.

-کنايات مه وايه. سمه سپينه خبره وکړه، چي چيري ځې او څه کوې؟

هغه څو شېبې چوپ وو. زړه يې غوښتل، چي موضوع بدله کړي او له شېرعلي څخه د زليخا پوښتنه وکړي، چي ورسره راغلې ده، که نه؟ هغه خبري ته ځان جوړاوه، چي شېرعلي وويل:

- زويه! زړه مي چوي. ژر خبره راته وکړه!

رېدي سر ځوړند کړ او په سختته يې وويل:

-آقاځنگه درته ووايم؟

آقا شېرعلي اندېښمن ورته وکتل. وروځي يې د پوښتني په ډول سره ور وستې:

- رېديه! د خدای روی دئ، اوږدې او لنډې مه کوه. سمه سپينه

خبره وکړه!

ده زړه نازړه ور غبرګه کړه:

- د لښکر سره راغلی یم.

هغه سترګي لا سره کوچنۍ کړې. ښه ګړۍ رېدي ته ځیر وو.

وروسته یې وویل:

- عجیبه ده! ستا او د دې کار یې سره څه؟... تجار سړی وې، خپل تجارت به دي کولای... دا کیسې په درد نه خورې رېدیه زویه! دا زه په دې خاطر نه وایم، چي شاه محمود پر اصفهان حمله کوي او زه یو اصفهانی یم، بلکي دا مي یو عام نظر دئ. که تا د شاه حسین صفوي د لښکر په پلوي د کندهار د نیولو له پاره دغه کار کولای، هم به ما همدا خبره درته کړې وای.

رېدی چوپ وو. کله به یې شېرعلي او کله لاندي کتل. شېرعلي پسي وویل:

-د باچاهانو په سر کي همېش د جنګ نشه وي. د دوی قدرت چي هر څونده پراخېږي، هغونده یې دغه خواهش او نشه زوروره کېږي. دوی د قدرت جنون لري. د دغه جنون له امله نه پر ځان وي نه د بل پر اولاد...

هغه یو ګړی چوپ سو. د رباط پر جوګیو یې نظر تېر کړ. بیا یې وویل:

-زویه ته بل فکر ونه کړې. دا هغه خبري وې، چي زه په خپل ژوند کي په پوه سوی یم. دا زما د ژوند د تجربې خبري وې. د دنیا تاریخ دا ثابتوي. د نړۍ ډېر جنګونه د قدرت له پاره سوي دي...

هغه لنډ چوپ سو او بیا یې زیاته کړه:

- دا زما نظر وو، نور ته په خپل کار ښه پوهېږې. اوس يوازي دونده راته ووايه، چي پر کمه خوا روان يې؟ کالي خو دي اصفهاني اغوستي دي.

رېدی په چورت کي سو. نه پوهېدی، چي څنګه او په څه ډول خپل هدف او پلان ورته ووايي. څو شېبې دواړه چوپ ول. وروسته شېر علي بيا وويل:

- په چورت کي سوې. که داسي خبره وي، چي زما سره يې نه سې شريکولای، نو بخښنه غواړم!...

رېدي ته د هغه په دې خبره ځان کم ښکاره نسو. په خوله کي ور ولوېد:

- نه آقا داسي خبره نه ده. ته پوهېږې، چي ماته د خپل پلار په کمه نه يې او تا هم زه د خپل زوی په کمه نه يم ګڼلی، نو به داسي کمه خبره وي، چي ستا څخه يې پټه کړم.

هغه لنډ چوپ سو او بيا يې وويل:

- چي رښتيا سي، نو زه اصفهان ته روان يم. اعليحضرت شاه محمود يو کار را سپارلی دئ...

ده لا نور څه هم ويل، چي آقا شېر علي يې خبره ور پرې کړه:

- ښه، ښه! بس پوه سوم. بيا هم درته وايم، چي ته په خپل کار ښه پوهېږې. که څه هم ډېر خطرناک کار دي پر غاړه اخيستی دئ، خو دا دي ښه کړي دي، چي ظاهري بڼه دي ښه سمه اړولې ده. که خبري ونه کړې نو بيخي سم دم اصفهانی يې. خير خدای دي خير در پېښ کړي.

- آقا جانه تا ونه ويل، چي ته چيري روان يې او څوک درسره

دي؟

د هغه څېره لا زهيره سوه. ستر گي يې لاندي واچولې. د كمترى او بې وسى له گډ احساس سره يې وويل:

-زويه موږ خو نيمه خوا سوو!... نيم وجود راغلي يو!

د رېدي څېره لا زهيره سوه:

-خداى دي خير كړي؟!

-زويه خداى په خپلو كارو ښه پوهېږي!

د رېدي د تندي گونجي لا ژوري سوې. په زنه يې گوتي ووهلې:

-آقا! وارخطا دي كړم!

-موږ همدان ته روان يو.

-خير؟!

-بس هلته مو نور ژوند تريخ وو.

-ژوند مو تريخ وو؟

-رېديه دا د كراري خبري دي.

رېدي ته د شېرعلي جواب نيمگړى ښكاره سو. زړه يې سو، چي
سم رډ ورڅخه وپوښتي، چي زليخا درسره ده كه نه؟ هغه خبري ته
ځان جوړاوه، چي شېرعلي د كميس په چپه جېب لاس ننويست. څو
كيلى يې را وايستې. هغه يې رېدي ته ونيولې:

-ها، دا زموږ د كور كيلى دي. په كور كي يوازي صفدر پاته دئ.
زما په فكر ستا له پاره تر نورو ځايو زموږ په كور كي اوسېدل يو څه
محفوظ دي، خو بيا به هم ښېخي ډېر احتياط كوې.

رېدي كليو ته وكتل، خو وا يې نه خيستې:

-آقا! زه هلته خپل كار پر مخ بېولاى سم، دې ته ضرورت نسته.

شېرعلي د هغه لاس راکش کړ. کیلۍ یې د هغه په ورغوي کې ور کېښېښودې:

-بل هیڅ ځای ستا د اوسېدو له پاره مناسب نه دئ. ته به حتماً هلته ځې.

رېدي زړه نازړه کیلۍ واخیستې. شېرعلي چې د ده زړه نازړه حالت ولید، وې ویل:

-زړه نازړه کېږه مه! بیا هم درته وایم، چې ته به حتماً هلته ځې. دا خبره خلاصه ده، بله نه پکښې ځایږي.

یو ګړی دواړه چوپ ول. رېدي له موقع څخه په استفاده خپله پوښتنه بیا تکرار کړه:

-آقا شېر علي تا ول (ویل) نیم راغلي یو، نیم نه؟

-هو، زه، د زلیخا مور او ورور راغلي یو.

د هغه بې اختیاره له خولې ووتل:

-او زلیخا؟

هغه سر لاندې ځوړند کړ. تر ډېره چوپ وو. آخیر رېدي بیا وپوښت:

-آقا؟!

-زویه! هغه یې د حرمسرای د خدمت له پاره بوتله!

د رېدي پر وجود تودې لمبې تېرې سوې. ستر ګي یې له خواشینۍ او نفس تنګۍ څخه ننوتې. اوږده شېبه چوپ وو او بیا یې ژوره ساه وکښه:

-د حرمسرای د خدمت؟

-هو، زویه هغه ستا په قضیه کي یې بوتله.

رېدي له ملامتۍ او بې وسۍ څخه ستر ګي لاندي واچولې. جهان

پر تنګ سو. پر ذهن یې د نفستنګۍ او خواشینۍ یو لوی بوج احساس کړ. سر یې د درد څړیکي وکړې. شېرعلي د ده دا حالت لا زهیر کړ:

-زویه! بس دا نو د خدای کار و نه دي!

رېدی نه پوهېدی، چي څه ووایي. د زړه او ذهن پر نړۍ یې اور بل سو. زړه یې غوښتل، چي بې له دمي همدا اوس بېرته د اصفهان پر خوا حرکت وکړي. ده لا چورت واهه، چي یو سړی پر آس تېز راغی او له دوی څخه لږ لیري ودرېد. د موټ کړي لاس د شهادت ګوته یې شېرعلي ته ونیول:

-آقا شېرعلي! یوه دقیقه!

هغه اند ېښمن ور تېر سو:

-آقا! یو زېری لرم!

-حسینه زویه! زېری؟!

-آقا مرتضٰی را واستولم.

-خیریت وو؟

-ویل ده ته حال وروړه، چي زلیخا یې خوشي کړه.

رېدي له لیري دا واورېدل. بې اختیاره یې هغوی ته وکتل. د شېرعلي په څېره کي وینه وچلېده. په بې روحه څېره کي یې ژوند پیدا سو:

-د خدای روی دئ! نو اوس چیري ده؟

-آقا مرتضٰی ویل، لږ ناروغه ده، چي ښه سي، پسي در وبه یې لېږم.

شېرعلي له خوښیه ناکراره رېدي ته وکتل او بیا یې حسین ته مخ ور واړاوه:

- ښه اوس راځه مور. هلته هغه د پای په جوگيو کې يو. نن شپه به هورې تېره کړو. سبا سهار به هر يو پر خپله مخه ځي.

بيا درې سره د پای د جوگيو پر خوا روان سول.

***

# پنځم څپرکی

د پوره ورځي له مزل وروسته د رېدي سترګې نظر د اصفهان د ښار پر خال، خال تتو روښاګانو ولګېد. د ماښام په تیاره کي د اصفهان ښار د یو مړ کهکشان غوندي ښکارېدی. د ښار دې حالت د شپې د جنازې تصویر ورکاوه.

هغه چي څونده ښار ته ور نژدې کېدی، هغونده یې په زړه کي ډول، ډول اندېښنې او فکرونه ورزیاتېدل. له یوې خوا د زلیخا د ژر لیدو تلوسه وه او له بلي خوا دا اندېښنې ورسره وې، چي په داسي خراب حالت کي به ښار ته څنګه ورننوزي او ورسپارل سوی کار به څنګه تر سره کوي؟

رېدی چي ښار ته یو څه نور هم ور نژدې سو، نو د ښار په یوه څنډه کي یې یوې ګڼي ګوڼي ته پام سو. هلته خلک تاو بالا کېدل. څراغونه بل ول. یو نیم کسان پر اسانو هم دوري، هورې کېدل. هغه له لیري څخه نه پوهېدی، چي څه کیسه ده، خو کله چي لږ ور نژدې سو، نو پوه سو، چي د خوښۍ مراسم دي.

رېدی لومړی د ښار یوې بلې څنډې ته ور نژدې سو او بیا له هغې خوامیده، میده د گڼې گوڼې پر خوا ورغلی.

هلته واده وو. خلک دوري، هوري کېدل. دېگونه باندې ول. د ورجو خوږ بوی د رېدي لوږه وخوروله. هغه د گڼې گوڼې له لارې په ښار ور ننوت او بیا سیده د آقا شېرعلي د کور پر خورا ورغی.

***

په کوټه کې څراغ بل وو. رېدي د څراغ په ژړه روڼا کې پر دېوال ځوړندې رسامۍ ته کتل. په رسامۍ کې د کور د دروازې مخته یوه نجلۍ پر بغل ولاړه ده. د هغې پر راسته باړخو د اوښکو څاڅکي رابهېدلي ول. نجلۍ د یو ځوان پسې گوري. ځوان پر آس سپور دئ او نجلۍ ته یې شا ده. داسې ښکاري چې پر آس سپور ځوان په یو لوی سفر ځي. د هغه د آس توبره له شیانو ډکه ده.

رسامۍ ته په کتو، کتو هغه په چرتونو کې ډوب سو. انځور هغه ته له یوې خوا د زینبې مړاوې څېره ور په یاد کړه، چې د لښکر کشۍ پر وخت یې ده ته کتل او له بلې خوا زلیخا.

هغه په همدې چورتونو کې ډوب وو، چې د کوټې د دروازې کړپ سو. هغه دروازې ته وکتل. صفدر وو. هغه سترخوان پر مځکه کېښېښود او وې ویل:

- وبخښه آقا چې دیغ سوی نه یي!

رېدی موسکی سو. ده چې څه ویلو ته ځان جوړاوه، هغه له ولاړېدو سره پسې وویل:

- زه به دستي کتغ راوړم.

کله چې صفدر له کوټې ووت، نو هغه یو ځل بیا رسامۍ ته وکتل. په

فکر کي يې ورو گرځېدل، چي له زينبي څخه خو ليري يم، اما زليخا خو بايد ووينم.

د کوټې د دروازې بيا کړپ سو. صفدر له کتغ سره راغی. پر سترخوان يې کښېښود او دواړو بسم الله کړه.

څو شيبې په کوټه کي چوپتيا وه. رېدي له ځان سره چورت واهه، چي څنگه له صفدر څخه د زليخا د ماما د کور پته معلومه کړي. لږ وروسته يې غاړه تازه کړه او وې ويل:

- صفدره ته به هم دا څو ورځي په يوازيتوب کي ديغ سوی يې؟

هغه موسکی سو:

- آقا نو څنگه وکم، همدا مي وظيفه ده.

- څوک به دي پوښتني ته هم نه وي راغلي؟

- آقا زه خوارکی د چا په ياد يم.

- د زليخا د ماما کور هم لکه چي در څخه ليري دئ، که نې حتماً دربانديراگرځېدل.

- هو، خو دونده هم ليري نه دئ. زموږ له کور څخه شپږ کوڅې ها خواته د شاه مسجد سره دئ.

- د شاه مسجد سره؟

- هو، د شاه مسجد څخه چي د لمر خاته خواته لږ ور تېر سې، په دا دريمه کوڅه کي چپه لاس ته څلورم کور دئ.

بيا يې پسي وويل:

- شاه مسجد خو به دي ليدلی وي؟ بس په دا دريمه کوڅه کي چپه لاس ته څلورمه غټه دروازه د دوی ده.

د رېدي تندی ورين سو. لکه ورکه چي يې موندلې وې. نور دوډی

خوند ور نه کړ. ځان یې بالښت ته ایله کی او په دې چورت کې سو، چې په کومه بهانه به د زلیخا د ماما کره ورسي.

***

په اصفهان کې د رېدي دریمه ورځ وه. هغه اصفهاني کالي اغوستي ول، د کور په غولي کې ولاړ وو او د بام پر سر یې د بادبان په خوله کې سترګې ښخې کړې وې. رېدی د څو میاشتو مخکې خاطرو په مخه کړی وو. د هغه ماښام پېښه یې ټکي په ټکي په ذهن کې تېرېده، چې د آقا شېرعلي کوچنی زوی وارخطا راغلی او پلار ته یې د شاه د خاصو ساتونکو د راتلو خبر راوړی او شېرعلي په تښتېدلې بڼه نوموړی په تیاره زینو کې بام ته پورته کړ. بیا یې هغه شپه ور په یاد سوه، چې نوموړي د باد بان په تنګ دالان کې تېره کړه. وروسته یې هغه سهار ور په یاد سو، چې دی له بادبانه د لمانځه له پاره راووت او بیا د اصفهان د ښار په ننداره بوخت وو، چې زلیخا یې پر اوږه لاس ورکښېښود. هغه صحنه او د زلیخا خبرې ور په یاد سوې.

رېدی لا په همدې چورتونو کې ډوب وو، چې صفدر له طبیلې راووت او پر نوموړي یې په اماده حالت کې سترګې وموښتې. هغه وویل:

–آقا! دخیره؟

–ولا، صفدر جانه یو وار دباندې وزم.

–دخیره، چیرې دې نیت دئ؟

–یو وار ښار ته وزم.

صفدر اندېښمن وویل:

–آقا! حالت ښه نه دئ!

- پوهېږم، خو ضروري کار لرم.

صفدر یو گړی چوپ سو. په چورت کي ولاړ. لږ وروسته یې رېدي ته وکتل:

- که په ما کېږي، خو زه به پسي ووزم.

- یا، خیر یوسې! چي خپله نه یم نه کېږي.

- ښه نو که اړتیا وي، زه به هم درسره ووزم؟

- یا، یا خدای دي خیر درکړي، ته زحمت مه کوه. زه بیرته ژر راځم.

رېدي دا وویل. صفدر ته موسکی سو او میده، میده د سرای د دروازې پر خوا روان سو.

***

ماپښین قضا وو. رېدی د شاه مسجد پر خوا روان وو. هغه د ښار ودانۍ تر نظر تېرولې. د لمر وړانگو د اصفهان ښار ودانیو ته زوړ طلایي رنگ ورکړی وو. د ښار پر دېوالونو او ودانیو غمجن څادر غوړولی وو.

هغه چي شاه مسجد ته ور نژدې سو، نو قدمونه یې سست سول. یو ډول هیجاني سو. په وار، وار یې د صفدر خبري په ذهن کي انگازه سوې... آقا ستا خبره سمه ده، خو دونده هم لیري نه دئ. زموږ له کور څخه شپږ کوځې ها خوا ته د شاه مسجد سره دئ.

- د شاه مسجد سره؟

- هو، د شاه مسجد څخه چي د لمر خاته خوا ته لږ ور تېر سې، په دا درېیمه کوڅه کي چپه لاس ته څلورم کور دئ.

رېدی په همداسي سستو قدمو نو له شاه مسجد څخه د لمر خاته خوا ته دوې کوڅې تېر سو. درېیمي کوڅې ته چي ورسېد، نو زړه یې میده،

میده په دربي سو. هغه په پوره قوت سره د ځان د کابو کولو هڅه وکړه او په کوڅه ور ننوت.

د کوڅې د چپه لاس لومړی، دوهمه او دریمه دروازه یې تر نظر تېره کړه، خو کله چې څلورمې دروازې ته ورسېد، نو د زړه درزا یې په زوره سوه. ذهن ته یې څو ډوله خبري تلې راتلې، داچې زلیخا به د ده په لیدو څونده حیرانه سي او داچې د زلیخا ماما دوی به د ده په ورتلو څه فکر کوي؟...

هغه په همدې چورتونو کې ډوب میده، میده روان وو، چې تر دروازې تېر سو. کله چې یې ځان ته فکر سو، نو بیرته پر راوګرځېد. دروازې ته یې سترګې ور واړولې. پر دروازې لوی تور قلف ځړېدی.

رېدي د کوڅې د کورونو دروازې له سره حساب کړې. څلورمه دروازه همدا دروازه وه. فکر یې وکړ، چې ښایي صفدر خطا وتلی وي. بیا یې ذهن ته ورتېر سول، چې ښایي زلیخا دوی بل ځای تللي وي. رېدی لا په همدې چورت کې وو، چې د څنګ د کور له دروازې څخه یو کوچنی راووت. رېدي هغه ته په ګوته د راتلو اشاره وکړه. کوچنی چې رانژدې سو، نو هغه وپوښت:

– دا د چا کور دئ؟

– د علي!

– د علي د پلار نوم څه دئ؟

– آقا مرتضٰی.

– دا دروازه ولي قلف ده؟

کوچني یو وار د کور دروازې او بیا رېدي ته وکتل:

– نه پوهېږم، یو ځای به تللي وي.

کوچني تر لنډي چوپتيا وروسته زياته کړه:

-سبا يا بل سبا راځي.

رېدی د کوچني پر دې خبره موسکی سو او وې ويل:

-ښه!

هغه دا وويل او بيا يې له ځان سره پرېکړه وکړه، چي نور بايد د خپل اصلي هدف پسي ولاړ سي. له دې سره نوموړی د ښار له دې ارامي او خاموشي سيمي څخه د بازار پر خوا روان سو.

***

ماځيگر مهال هغه د ښار د بازار څو سماوارونه تر نظر تېر کړل، اخير يو سماوار ته ورننوت. سماوار غټ وو. څلورو ميلانو يې گومبتي پوښښ ته اوږه ورکړې وه. د سماوار دېوالونو ته تختونو ايښوول سوي ول. تختونه په غاليو پوښلي ول. ډېر تختونه خالي ول. يوازي دوه ځايه څلور پنځه کسان ناست ول. ده ته هغه شپې ور يادي سوې، چي دا مهال به په دې سماوار کي د ناستي ځای نه وو.

رېدي د سماوار تختونه تر نظر تېر کړل. سماوارچي ته يې د چايو وويل او ناستو خلکو ته نژدې يو تش تخت ته ور تېر سو.

کله چي نوموړی پر تخت کښيناست، نو يو ځل بيا يې په سماوار کي ناست کسان تر نظر تېر کړل. د هغه څنگ ته په لنډه فاصله کي بل تخت پروت وو. پر تخت شپږ کسان ناست ول. په دوی کي پنځه ځوانان او يو شناوی سړی وو. هغوی ټولو اوږده اصفهاني کالي اغوستي ول. په دې کسانو کي د يوه نفر توره قرقلي وشمه خولۍ پر سر وه. هغه په عمر پوخ وو. شناوی کونډۍ ږيره يې لرله. کيفه يې لوړ دولتي مامور ته ورته وه.

ناستو کسانو د اصفهان پر حکومتي چارو بحث کاوه. لږ وروسته یو ځوان له قرقلي والا څخه وپوښتل:

ـ آقا نور علي! اعلیضرت ولي د کرمان مرستي ته لښکر ور وا نه ستوی؟

شناوی سړی د تمسخر په ډول په برېتو کي مسکی سو. یو ګړی چوپ وو، بیا یې هغه ځوان ته وکتل:

ـحسین جانه! شاه له کرمان سره څنګه مرسته کړې وای؟ کرمان خو پر پېړده هغه پر اصفهان اریان دئ...

یو ځوان په تعجب وپوښتل:

ـڅنګه آقا؟

سړي په سماوار کي ناستو کسانو ته وکتل او بیا یې وویل:

ـ شاه ته خبر رارسېدلی دئ، چي د کرمان حاکم شاه محمود افغان ته د سولي وړاندیز لېږلی دئ او هغه د امتیازاتو په بدل کي ورسره منلی دئ...

د دې خبري په اورېدو ځوانان شناوي سړي ته هېښ ولاړل. هغه یو ګړی چوپ سو او بیا یې وویل:

ـ شاه ته دا خبر هم راغلی دئ، چي د شاه محمود لښکر له کرمان څخه تر یزد ښار پوري سوځوونکی شګلن دښت وهلی دئ او یزد ښار یې محاصره کړی دئ...

سړی چوپ سو. رېدي ته یې وکتل. هغه ځان ناګمانه واچاوه. لږ وروسته سړي بیا وویل:

ـ شاه ته تر ټولو تازه خبر دا راغلی، چي یزد یو کوچنی ښار دئ او نیول یې د افغان لښکر له پاره چنداني اغېزمن او ګټور نه بلل کېږي، نو

شاه محمود نه غوښتل، چې پر هغه کوچني ښار باندې خپل وخت ضایع کړي. هغه یزد ښار په محاصره کې پرې ایښی دئ او د اصفهان پر خوا راروان سوی دئ.

سړی یو دم چوپ سو. په سماوار کې یې شاو خوا وکتل د سماوار نور خلک تللي ول. هغه ورسره ناستو کسانو ته وویل:

-دا خو ناوخته سوی دئ. درځئ، چې ځو!

له دې سره یو په بل پسې له تخته راکښته سول او له سماواره ووتل. لږ وروسته رېدي هم د سماوارچي حساب ورخلاص کړی او د کور پر خوا روان سو.

***

سهار رېدی تر لمانځه وروسته په کوټه کې ناست وو، چې صفدر خوني ته ورننوت. هغه رېدي ته وکتل. رېدي لویه اررمی وکښه:

آقا! د شپې دې لکه چې سم خوب نه دئ، کړی؟

رېدي چې ځان خبري ته جوړاوه، یوې بلې اررمی یې خوله ورخلاصه کړه. هغه خولې ته لاس ونیو:

– هو، صفدره یاره! چې رښتیا سي، نو برایي شپه مې سم خوب و نه کړی.

-ولې آقا، خیریت وو؟

هغه یو ګړی چوپ وو، خو وروسته یې جواب ورکړی.

-صفدر جانه پرون مې په ښار کې ځیني خبري واورېدې، هغو مې فکر رابند کړی وو.

-پوه نه سوم؟

– پرون یو ګړی، د ښار په یوه سماوار کې کښېناستم... هلته ځینو

خلکو ویل، چې شاه محمود هوتک د کرمان محاصره پرې ایښې او د اصفهان پر خوا را روان سوی دئ...

د رېدي د دې خبري په اورېدو د صفدر سترګي رډې، رډې راوختې او په حیرانتیا یې وپوښتل:

- نو پر اصفهان باندي حمله کوي؟

- البته نو.

بیا یې وروسته پسي وویل:

- دې خبري زما فکر هم رابند کړی دئ، ځکه زه باید ژر خپل کار خلاص کړم او له اصفهانه ووځم.

د صفدر د تندي کونجي لا پسي زیاتي سوې. هغه ته یې د تائید په توګه سر وښوراوه او له کوټې ووت.

***

له څه مودې راهیسي دا پنځم ماځیګری وو، چې رېدي د اصفهان پر سماوارونو تېراوه. په تېرو څو ورځو کي هغه د سیمي د حالاتو په اړه خورا نوي، نوي خبري واورېدې. له دې خبرو څخه یوه دا وه، چې افغان لښکر د اصفهان ښار سل میلۍ ته رارسېدلی دئ او د صفوي دولت صدراعظم محمد قلیخان شاه محمود هوتک ته یو لیک لېږلی دئ. په لیک کي صفوي صدراعظم نوموړي ته یو وړاندیز استولی دئ، که چیري افغان لښکر نور مخکي را نه سي او بیرته پر شا ولاړ سي، نو صفوي دولت حاضر دئ، چې شاه محمود هوتک ته (۳۷) زره پونډه ورکړي.

همدارنګه د پورتني خبر په ارتباط یو بل خبر دا وو، چې شاه محمود هوتک د صفوي صدراعظم وړاندیز په تمسخر سره رد کړی دئ او حتی

جواب يې هم نه دی ور کړی. د خلکو په وينا د دې خبري دليل دا دئ، چي شاه محمود تصميم لري، چي دښمن په خپل کور کي مغلوب او مات کړي. بل داچي پارسيانو پر کندهار باندي حکومت کړی دئ، نو افغانان هم بايد پر اصفهان باندي تسلط ومومي.

د يو سماوار په منځ کي لوی تخت پروت وو. پر هغه لس دولس کسان ناست ول. دغه کسان د روانو حالاتو په اړه په تاوده بحث بوخت ول.

رېدی هم د همدې سماوار په يو کونج کي ناست وو او په خورا تلوسه يې په سماوار کي د ناستو خلکو خبرو ته غوږ نيولی وو. نن هغه له ناستو خلکو څخه خورا ډېري نوي خبري اورېدلې. تر ټولو نوې خبره دا وه، چي افغان لښکر د اصفهان ښار په دوولس ميلۍ کي پرتې سيمي (گلناباد) ته رارسېدلی دئ. داخبره په سماوار کي ناست يو سپين ږيري خپلو ملگرو ته وکړه. د دې خبري په اورېدو د اورېدونکو ستر گي له کولکانو راوختې او هېښ ولاړل.

د سماوار پر يو بل تخت ناستو کسانو چي د سپين ږيري دا خبره واورېده، نو يو دم يې خپل باناړار پر ښود او پر هغه راټول سول او په دې اړه يې پوښتني گروېږني شروع کړې.

کله چي دا خبر په سماوار کي ناستو نورو کسانو ته ورسېده، نو هغوی هم پر سپين ږيري راټول سول او په حيرت يې د هغه خبرو ته غوږ ونيو.

د دې خبر په اورېدو پر رېدي هم د بې قرارۍ اور بل سو. که څه هم په ظاهره هغه د خلکو خبرو ته غوږ نيولی وو، خو په ذهن او دماغ کي يې دا خبري گرځېدې، چي نور بايد خپل کار چټک کړي او د سمو

راپورونو سره ځان تر شاه محموده پوري ورسوي.

***

د پسرلي ماځيگر وو. د لمر وړانگو د شېرعلي د کور دانگړ د غټ توت نازکي پاڼي بربښولې. رېدی له طبيلې راووت او د سرای په غولي کي د وزر داره مېږيانو او وينو په ننداره سو.

رېدي پر مځکه يو وينه ته وکتل. هغه چي پر مځکه کښېناست، نو خپل وزرونه يې پرې کړل او روان سو. رېدی موسکی سو او له ځان سره يې وويل، توبه د خدای (ج) هم څنگه نظام دئ. د صفدر چي هغه ته پام سو نو وې پوښت:

-آقا! څنگه موسکی سوې؟

-داغسي، صفدر جانه دا وينه ته مي کتل، وزرونه يې پرې کړل او روان سو... د ځان سره مي وويل، چي دی يې بيا په کم غم نيولی دئ.

صفدر هم موسکی سو:

-ښه... او طبيلې ته څنگه تللی وې؟

رېدي په موسکا وويل:

-ولي صفدر جانه، زه طبيلې ته د تگ اجازه نه لرم؟

-يا، آقا مطلب مي دا نه وو... دا هر څه دي ستا بلا واخلې... اندېښنه راپيدا سوه، ما ول چي يو خوا ته خو به دي نيت نه وي؟

-په مطلب دي پوه سوم، صفدر جانه ټوکه مي درسره وکړه.

بيا يې لږ وروسته پسي وويل:

-خپل آس مي وليد، چي څنگه سوی دئ... ماشاءالله ښه دي تکړه کړی وو... زه به يې هم سبا ښه ستړی کم، بسته ډېره هوسايي يې وکړه.

صفدر وروځي سره ور وستې:

-آقا! يو خوا ته خو به دي نيت نه وي؟

-هو صفدر جانه، کار مي خلاص سو، سبا ځم دخيره... حالات ورځ تر بلې پېچلي کېږي...شاه محمود افغان ها دئ، اصفهان محاصره کړی دئ.

-هو آقا، دا خبره خو ده. نن دا زموږ گاونډي ويل، شاه حسين په دې اړه د خپلو وزيرانو سره غونډه کړې ده او حتٰی دې غونډي ته يې د عربستان والي عبدالله خان لا راغوښتی دئ...

هغه ولاړ سو، له اشپز خانې څخه يې چاړه او پياز را وايستل او بيا يې وويل:

- دا زموږ گاونډی هم ډېر بلا دئ. په هر څه خبر وي...هغه ويل، صدراعظم محمود قليخان پاچا ته نظر ورکړی، چي زموږ عسکر بايد د ښار د ساتلو له پاره دباندي ولاړ سي. هلته دي تر خپلو کمپونو لوی، لوی ژور خندقونه راوگرځوي او د ښار دفاع دي وکړي، ځکه افغانان د جگړې په ډگر کي غښتلي دي، خو زموږ په محاصره کي نه بريالي کېږي. د دې خبري ښه ثبوت د افغان لښکر له لوري د کرمان او يزيد د محاصرې دئ، چي بلاخره افغان لښکر ناکامه تر راتېر سول...

د صفدر سترگي پيازو ور ترخې کړې. هغه په اوښلنو بوڼو ستر گو رېدي ته وکتل. بيا په داسي حال کي چي اوښکي يې د راسته لاس په چپه خوا پاکولې پسي وويل:

- هغه ويل، صدراعظم پاچا ته دا هم وويل، چي که چيري موږ په وژلو او قتل و قتال لاس پوري کړو، نو په خپلو دې لږو او بيدو عسکرو د افغان لښکر مقابله نه سو کولای. همدا ډول د اصفهان خلک هم ټول په

ناز، نعمت او استراحت کي روزل سوي دي، نو دا هم امکان نه لري، چي په هغو کوم کار سرته ورسو...

رېدي هغه ته په غور غوړ نيولی وو. کله چي نوموړی چوپ سو، نو هغه دستي وپوښت:

- ښه، نور يې څه وويل:

- ويل، باچا هم د صدراعظم د نظر سره موافق وو، خو د عربستان والي عبدالله خان د صدراعظم محمد قليخان نظر بې زړه توب او بې غيرتي وګڼل او پاچا ته يې وويل، که چيري په يو څو تنو افغانانو کي د شاه محمود په څېر يو ځوان د ايران د سلطنت تخت محاصره کړي او ايرانيان په ښار کي دننه له بېري په لړزه وي، نو په دې ډول د ښار تر ساتني غوره دا ده، چي ښار دښمن ته وسپارل سي... که داسي نه وي، نو اجازه راکړئ، چي دباندي ور ووځو او په مېړانه کوښښ وکړو، چي د دښمنانو سرونه د هغو په خوا کي ور ته کښېږدو...

صفدر ولاړ سو. ميده کړي پياز يې اشپز خانې ته يووړل. د ها خوا له پټاټو سره راووتی او په موسکا يې وويل:

- له پټاټو سره څنګه يې؟

- صفدر جانه! ستا د لاس هر څه مي خوښ دي.

- درې څلور ډوله يې پخولای سم!

- نام خدا!

بيا يې لنډ وپوښت:

- ښه نو اخيره نتيجه يې څه وويل:

صفدر په خوند وويل:

- ډېره جالبه يې لا دا وکړه، چي پاچا دې مجلس ته نجوميان،

فال بينان او ملايان هم راغوښتي ول. هغه ويل د هغوی مشر فتح علیخان قاجار پاچا ته مشوره ورکړه، چي په استرآباد کي يوه ښځه ده. هغه له پېريانو او جناتو سره سروکار لري. نوموړي ښځي ماته ويلي دي، چي که چيري د پسونو دوې پښې د مړو انسانانو له درې سوه پنځوسو "پلو" سره وايشول سي او پر هغو يوه پېغله نجلۍ دوولس سوه واره (لا اله الا الله) ووايي، بيا که هر څوک د دغه ښورا څخه يو غوړپ وکړي، نو هيڅوک يې نسي ليدلای.

صفدر يو ګړی چوپ سو او بيا يې پسي وويل:

- ده ويل، د عربستان د والي خبرو پاچا پر جوش راوستی او کله چي يې د فتح عليخان څخه د ښوروا مشوره واورېده، نو سملاسي يې وزيرانو ته امر وکړ، چي عسکر جنګ ته اماده کړي او د فتح عليخان قاجار په مشوره دي هغه ښوروا هم جوړه سي او لښکر ته دي ورکړل سي...

کله چي صفدر خبري خلاصي کړې، نو رېدی څو شېبې هېښ ورته تللی وو. بيا بو دم ولاړ سو او په داسي حال کي چي د مېلمنو د کوټې پر خوا رهي وو، وويل:

- صفدر جانه وارخطا دي کړم. زه بايد خپل شيان سره ټول کړم او همدا نن شپه ځان له اصفهانه وباسم.

صفدر په حيرانتيا وپوښتل:

-آقا! دا څه وايي، د شپې؟

- هو، بله چاره نه لرم.

***

# شپږم څپرکی

ځانښت مهال وو. رېدی له خپلي ښځي راووت او د رود غاړي ته ولاړ. (زنده) رود د پسرلي د خړو اوبو څخه غاړي، غاړي بهېدی. د رود خړو اوبو د رود د مینځ له ډبرو سره د ټکر له امله باډاسکي وهلې. رېدی د رود د باډاسکو او مستۍ په ننداره وو، چي له شا څخه یې د یو چا ږغ واورېد:

- بیا په څه چورتونو کي ډوب یې؟

رېدي شا ته وکتل:

- مابت خانه ته یې؟ راځه!

هغه چي رېدي ته رانژدې سو، نو پر اوږه یې لاس ور کښېښود، سترګو ته یې په ځیر وکتل او وې پوښت:

- آښه، تا چي د اعلیحضرت سره ولیدل، نو هغه دي د اصفهان له کاره خوښ وو، که څنګه؟

رېدي د رود په منځ کي یوې لوخي ته وکتل، چي اوبو رااخیستې وه او بیا یې وویل:

- ولا څه ووایم؟ په ظاهره خو اعلیحضرت زما د کار ډېره ستاینه

وکړه، په زړه یې نو خدای خبر...

بیا یې لنډ پسې وویل:

– تالکه چې په دې اړه یو څه اورېدلي دي؟

– یا، ما مازې پوښتنه وکړه.

– ښه چې داسې ده، نو اوس ته ووایه، چې نوې موې دې اورېدلې ده، که نه؟

مابت خان په موسکا سره ورغبرگه کړه:

– ستا د زړه نوې مې اورېدلې ده، خو تر هغو یې نه درته کوم، چې ته د اصفهان د دیدنو نو کیسې راته ونه کړې.

– کښېنه یاره، دیدنونه چیرې وه؟ ته دیدنونه یادوې، موږ دیدن لا ولاکه کړی وي.

–ولې؟

– بس سره تېر و بېر سوو.

بیا یې تر لنډې چوپتیا وروسته وویل:

–ښه نو اوس ته ووایه، چې څه نوې دې اورېدلې ده؟

– نوې خو نو دا ده، چې صفویانو لښکر را ایستلی دئ.

دریدي څېره وغوړېده او په خورا تلوسه یې وپوښتل:

–رښتیا؟! دا چا ویل؟

– نن سهار خبر راغی. کېدای سي، چې سبا او بل سبا یې سره مالومه کو.

– دا خو دې ډېره خوندوره نوې وکړه. ته راځه چې په دې خوشالي کې ښې شنې چای درباندې وڅښنم.

له دې خبرې سره دواړه د خېمې پر خوا روان سول.

***

د (۱۷۲۲م) کال د مارچ د اتمي لمر خاته مهال د (گلناباد) د ختیځ په دوه میلی کي افغان او صفوي لښکر سره مخامخ سول. د جنگ د میدان یوې خوا ته پنځوس زره کسیز پارسي لښکر ولاړ وو او مقابل لور ته یې دوه ویشت زره کسیز افغان لښکر.

د دې دوو لښکرو مقابله خورا په زړه پوري نندارہ وه. پارسي جنگیالیو فاخره کالي اغوستي ول او تر و تازه ول. آسونه یې عراقي، زرین او چاغ ول. بل لور ته افغان جنگیالي ول، چي اوږده مزل او سفر ژړ اړولي ول. کالي یې شلېدلي ول، آسونه یې ډنگر او د خېمو سایوانونه یې نه ول. د دې لښکر یوازیني ځلېدونکي اسباب د دوی توري او نېزې وې.

د پنځوس زره کسیز پارسي لښکر څخه دېرش زره سپاره عسکر پر دوو برخو ووېشل سول. پیاده او توپخانه ځواک د دې دوو ډلو په منځ کي واچول سو.

د گرجستان د والي ورور او د خاصو ځواکونو قومندان د پارسي لښکر د ښي اړخو قومنده پر غاړه واخیسته او صدراعظم محمد قلیخان د کیڼ اړخو.

همدارنگه د عربستان والي د پنځو سوو عربو جنگیالیو په واسطه د ښي اړخو مرسته کوله او د لارستان والي علي مردان خان په پنځو سوو تنو سره د کیڼ اړخو.

بل لور ته افغان لښکر پر څلورو برخو ووېشل سو. امان الله خان ښي اړخي جنگیالي اداره کول او نصر الله خان کیڼ اړخي. خپله شاه محمود هوتک د جنگیالیو په منځ کي پر فیل سپور وو او زنبورک توپونه د جنگیالیو تر شا په ترتیب اینبوول سوي ول.

لومړۍ حمله د عربستان د والي له خوا د پارسيانو د ښي اړخو له لوري د افغان لښکر پر کيڼ اړخو باندي وسوه. داچي د پارسيانو شمېر ډېر زيات وو، نو افغان لښکر مقاومت ونه کړای سو او پر شا ولاړل. صدراعظم محمد قليخان چي د افغان لښکر شا تګ وليد، نو پر ښي اړخو افغانانو يې بريد وکړ. نوموړي هم تر يو بريده بری ترلاسه کړ او افغانان يې پر شا کړل.

شاه محمود هوتک پر يوه غونډۍ ولاړ وو او د جګړې حالت ته يې کتل. کله چي نوموړي د افغان لښکر د ښي اړخو او کيڼ اړخو شا تګ وليد نو روحيات يې له لاسه ور نه کړل، بلکي په خورا مهارت يې د يو باتجربه جنرال په توګه د جګړې ميدان ته ځان ورساوه او پر شا سوي افغان جنګيالي يې بېرته سره تنظيم کړل او په لوړ آواز يې وويل:

- که چيري بريالي سئ او فتح وکړئ، نو د اصفهان دولت ستاسو مکافات او پاداش دئ او که چيري وتښتی، نو د تېښتي لار هم نه لری، بلکي ارو، مرو به د دښمن په لاس په ډېر ذلت او بدنامۍ سره د اجل د زهرو پياله وڅيښئ!

له دې خبرو وروسته يې د يوې منظمي نقشې له مخي خپلو عسکرو ته امر وکړ، چي پر شا سي. پارسي عسکرو چي دغه پرلپسې پر شا تګ وليد، نو دا يې د افغانانو ماته وګڼله او دونده مخته راغلل، چي د افغانانو د زنبورک توپونو تر نفوذ لاندي راغلل.

د افغانانو زنبورک توپونه د اوښانو پر شاوو تړل سوي ول او اوښان د افغان جنګياليو تر شا په ترتيب پراته ول. کله چي پارسي لښکر د دې توپونو تر ښه اغېز لاندي راغلل، نو هغو ته يې د ډزو امر وکړ.

د زنبورک توپونو دغه ناڅاپي ډزي خورا اغېزمني تمامي سوې. دې

ډزو د صفوي لښکر نظام دونده ورګډ وډ او خراب کړ، چې ځينو جنګياليو يې پر خپلو ټوليو ګولۍ واورولې. له دې سره صفوي لښکر نه يوازي دا چې بده ماته يې وکړه، بلکي پنځويشت داسي غټې توپونه هم د افغانانو لاس ته ورغلل، چي تر اوسه ټک لا نه وو په سوی. په دې حمله کي د پاچا د غلامانو د مشر رستمخان او د عمومي توپخانې قومندان احمد خان په شمول د پارسي لښکر زيات و کم پنځه ويشت زره عسکر ووژل سول او زيات شمېر نور يې خپلو ولايتونو ته وتښتېدل.

***

تر جګړې څو ورځي وروسته رېدی د ټپيانو لويي خېمې ته ورغی. په خيمه کي لس دوولس ټپيان پراته ول، د چا اوږه خوږ وه، څوک په پښه کي زخمي وو او څوک هم د بدن په نورو برخو کي.

د خيمې په چپه خوا کي پنځم ټپي مابت خان وو. رېدی هغه ته ور تېر سو. تر روغبړ او پوښتني وروسته څو شيبې دواړه چوپ ول، بيا مابت خان وويل:

–وينه او سرونه مو ورکړل، خو بې فايدې!

رېدي د هغه خبري ته د تائيد په ډول سر وښوراوه او وې ويل:

– هو، ولا، اوس ټول داغه ارمان کوي، وای چي جګړه مو نه وای درولې او هغوی مو پسي تعقيب کړي وای، اوس به د اصفهان درب لنډ سوی وای.

–بس په داغه کي به مو خير وو.

– هو

د مابت خان د ځنګ ټپي سرتېري د دوی خبرو ته غوږ وو. کله

چي دوی چوپ سول، نو هغه د رېدي څخه پوښتنه وکړه:

– دا ګوله خو مو له لاسه ولوېده. اوس دا ووایه چې نوي څه کیسې دي؟ وای اعلیحضرت اصفهان ته نوي کسان استولي ول، هغوی څه نوي راوړي دي؟

– هغو هم دا خبره کړې ده، چې د پارسي لښکر له ماتې څخه اصفهانیان خورا وارخطا سوي ول او باچا دستي د دربار اراکین د یوه فوق العاده مجلس له پاره رابللي ول... اعتمادالدوله په دې مجلس کي باچا ته مشوره ور کړې وه، چي سمدستي له اصفهان څخه ووزي او له سلطنتي خزانې سره دي قزوین ته ولاړ سي. له هغه ځایه دي خلکو ته فرمان راولېږي، چي له ښار څخه دفاع وکړي او موږ به د شا له خوا پر افغانانو حمله وکړو...

مابت خان په پروتي خپل یوه او بل بغل ته وکتل. رېدي وپوښت:

– څه شي غواړې؟

– دلته دابو پتک پروت وو.

رېدي د اوبو پتک راواخیست، هغه ته یې ورکړ او بیا یې پسي زیاته کړه:

– د هغوی په خبره، اعتمادالدوله د خپل نظر له پاره دا دلیل راوړی وو، چي که موږ داسي وکړو او د اصفهان ښار له باچا او خزانې څخه تش کړو، نو د افغانانو په نزد به یې اهمیت کم سي... مخبرینو ویل، باچا او د مجلس نورو اراکینو دا نظر خوښ کړی وو، خو د عربستان والي یې مخالفت کړی وو. هغه ویلي ول، چي د پایتخت څخه د باچا وتل تېښته بلل کېږي او بل که باچا په خپله وتښتي، نو نور به هیڅکله له تېښتي څخه منعه نه کړای سي.

په خېمه کي د يو ټپي ځګېروي، د رېدي خبري ور پرې کړې.
هغه شاته مخ ور واړاوه او ټپي ته يې وکتل، طبيب د هغه زخمونه ور
پاکول. رېدي بيرته مابت خان ته مخ راواړوه:

– بېچاره ډېر خوږ سوی دئ!

– هو، په دا ټولو ټپيانو کي دی ډېر خوږ سوی دئ.

هغه مابت خان او د څنګ ټپي ته وکتل او بيا يې کيسه شروع
کړه:

– نو د عربستان د والي خبرو باچا احساساتي کړی وو. سمدستي
يې هغه د اصفهان د والي په توګه مقرر کړی وو او د اصفهان د ښار د کلا
د ټينګولو، برجونو ته د توپونو د خېژولو او د جنګياليو د بېرته
تنظيمولو امر يې ورته کړی وو...

هغه چوپ سو. مابت خان او هغه بل سرتېري ته موسکی سو:

– نو دا وې نوي، دغونده به د نن له پاره بس وي؟

له دې سره ولاړ سو او وې ويل:

– ښه، نو زه درڅخه ځم. لږ کار لرم بيا راګرځم.

او له خېمې ووت.

***

له پارسيانو سره تر لومړي جنګ څو ورځي وروسته شاه محمود
هوتک د فرح آباد د کلا پر خوا چپاو ور وړ. دغه کلا د اصفهان ښار په
درې ميلۍ کي پرته وه او له ښار څخه دباندي د سلطان حسين يوه
مانۍ شمېرل کېده.

که څه هم دا يوه ټينګه کلا وه، خو څنګه چي افغان جنګيالي ور
ورسېدل، د کلا ساتونکي له هغه ځايه وتښتېدل او کلا بې له مقاومته

له څو توپونو سره افغانانو ته په لاس ورغله.

د فرح آباد د کلا تر نیولو وروسته شاه محمود د اصفهان د ارمنیانو د استوګنځي (د جلفا کلي) د نیولو له پاره افغانان مامور کړل. دغه کلی د اصفهان ښار د جنوب په یو نیم میلۍ کي د زنده رود پر غاړه پروت وو او ارمني عسکر په کښي اوسېدل.

کله چي ارمنیان خبر سول، چي افغانان پر هغوی حملې ته راغلي دي، نو د دفاع له پاره يې په امادګي پیل وکړ، خو مخکي له دې چي ارمنیان کوم بری تر لاسه کړي، افغانانو د کلا یو بهرنی برج ونیو. کله چي د کلا په یوه برخه کي سوری پیدا سو، نو بیا په یوه حمله افغانانو د جلفا کلا ونیوله او په دې ډول د زنده رود جنوبي خوا له جلفا څخه تر عباس آباده ټوله ساحه د افغانانو تر واک لاندي سوه.

د جلفا د کلا تر نیولو وروسته د (چارباغ) لار د افغانانو د لښکر مرکز وټاکل سو. د (۱۷۲۲م) کال د مارچ میاشتي پر (۲۱) نېټه شاه محمود هوتک له دغه ځایه پر اصفهان ښار برید وکړ او وې غوښتل، چي تر ټولو لومړی د زنده رود لوی پُل تر واک لاندي راولي. هغه د پُل تر نیمایي پوري مخته ولاړ، خو داچي پُل په برجونو کي د ایښوول سویو، لویو توپونو په واسطه ساتل کېدی، نو افغانانو د توپونو د ډزو تاب را نه وړ. هغوی بېرته پر شا سول او خپل مرکز ته ولاړل.

***

داچي شاه محمود هوتک نه غوښته، چي تر دې زیات د اصفهان ښار د خرابۍ او د هغه ځای د خلکو د تباهۍ لامل سي، همدارنګه هغه هیله لرله، چي د افغان او پارس هیوادونو تر منځ د سولي له لاري یو د بل پر خاوره د تېري مخه ونیول سي او دواړه هیوادونه د پوره خپلواکۍ

او متقابل درناوي په فضا کي ژوند وکړي نو له دې امله یې له افغان مشرانو سره تر سلا مشورې وروسته سلطان حسین صفوي ته د سولي وړاندیز ورولېږی. دغه وړاندیز پر لاندي درو شرطونو ولاړ وو:

۱- صفوي پاچا دي شاه محمود د کندهار، خراسان او کرمان د خپلواک او مستقل پاچا په توګه وپېژني او دغه سلطنت دي د میراث په ډول د شاه محمود په اولادې پوري وتړي.

۲- صفوي حکومت دي د هغو زیانونو او تلفاتو د عوض په توګه پنځوس زره تومنه افغان حکومت ته ورکړي، چي د صفوي حکومت د یرغلونو له کبله افغانانو ته رسېدلي ول.

۳- صفوي سلطان دي خپله لور شاه محمود هوتک ته په نکاح کړي او یو لک او پنځه ویشت زره پونډه دي د جهیز په توګه ورته وټاکي.

سلطان حسین صفوي د شاه محمود هوتک دغه سوله ناک وړاندیز او ښه نیت ونه مانه او بېرته یې د پارسي او افغان لښکرو تر منځ د وینو تویولو زمینه برابره کړه.

د سلطان حسین له لوري د شاه محمود د سولیز وړاندیز له ردولو سره سم شاه محمود هوتک ته د عربستان د پخواني والي چي اوس یې د اصفهان د والي په توګه کار کاوه، یو پټ پیغام ورسېد. هغه شاه محمود د سولي د وړاندیز له امله ملامت کړی وو او ورته ویلي یې وو: "موږ او تاسي په مذهب کي سره شریک یو، ثابت قدمه اوسه، د محاصرې له بېري مه وارخطا کېږه"

شاه محمود چي له یوې خوا د سولي له وړاندیز څخه نهیلی سوی وو او له مقابلې پر ته یې بله چاره نه لیده او له بلي خوا یې د بري له پاره زمینه برابره ولیده، نو بیا یې د اصفهان د نیولو او د صفوي دولت د له

منځه وړلو له پاره تصميم ونيو.

افغانانو د پورتني تصميم په لومړي اقدام کي اصفهان ښار ته د موادو د رسولو ټولي لاري بندي کړې او هر ځونده خوراکي مواد چي له ښاره دباندي په کليو کي لاس ته ورتله، هغه يې د افغان لښکر له پاره ذخيره کوله. کله چي په کليو کي قحطي جوړه سوه، نو خلکو يې د ښار پر خوا مخه کړه. په لومړي سر کي د خلکو په دې کار پارسي دولت خوشحاله سو او دا يې د ځان د قوي کېدو سبب وباله، خو ځو ورځي وروسته په دې پوه سول، چي د ښار د خلکو لوږه وار په وار ډېرېږي. داچي دولت د دې ستونزي د له منځه وړلو له پاره کومه چاره نه درلوده، نو دې وضعيت دولتي چارواکي او د ښار اوسېدونکي تر پخوا ډېر پرېشانه او وارخطا کړل. د دوی وارخطايي او ډېره هغه وخت لا ډېره سوه، کله چي خبر سول، هغه کاروان چي په پټه يې ښار ته غله راوړله، د افغانانو لاس ته ورغلی دئ.

بلي خوا ته د افغانانو د لښکر يوې ډلي د عباس آباد پل له ګرجي عسکرو څخه په يوه حمله کي ونيو. له هغه څخه تېرل سول او اصفهان ښار يې له نژدې څخه تر محاصرې لاندی ونيو. په همدې وخت کي د افغانانو يوه ډلګۍ چي د امان الله خان تر قوماندې لاندي وه او د خوراکي موادو دوې بارخانې يې نيولي وې او خپل مرکز ته بېرته د ستنېدو په حال کي وه، چي (اصفهانک) نومي ځای ته نژدې د ځايي خلکو او د ګلناباد له جنګه د تښتېدلو عسکرو له خوا تر ناڅاپي برید لاندي راغله. د دې ډلګۍ ډېری کسان يا ووژل سول او يا ونيول سول. په نيول سويو کسانو کي د شاه محمود اکا، دوه زامن او يو ناسکه ورور هم شامل ول.

کله چي شاه محمود له دې پېښې خبر سو، نو سملاسي یې شاه حسین ته قاصد ورولېږی او د افغان بندیانو د سر ساتنه یې وغوښته. شاه حسین هم د میرزا رحیم نومي سړي په واسطه د اصفهانک کلي خلکو ته پیغام ور ولېږی، چي د بندیانو د سر ساتني ته پاملرنه وکړي، خو مخکي له دې چي د ده پیغام ور ورسیږي، د اصفهانک خلکو ټول افغان بندیان وژلي ول. دغه کار شاه محمود ډېر په غوسه کړ. هغه امر وکړ، چي ټول هغه پارسي بندیان زندي کړي، چي د افغان لښکر په لاس کي دي. له دې وروسته یې پر اصفهان ښار باندي د محاصرې کړۍ دونده تنگه او ټینگه کړه، چي هیڅ ژوندی ښار او له ښار څخه دباندي نه سوای وتلای.

***

د محاصرې موده اوږده سوه. دننه په ښار کي خوراکي مواد په کمېدو او تمامېدو سول. د ښار د خلکو نارې پورته سوې او شاهانه حرمسرای ته یې نژدې په مظاهرو پیل وکړ. هغوی له پاچا څخه وغوښتل چي له ښاره دباندي ووزي او د دې پر ځای چي ټول له لوږي ومري، نو ښه دا ده، چي دباندي له افغانانو سره وجنگېږي.

سلطان حسین خلکو ته د نن او سبا وعدې ورکولې او د خپل زوی شاه طهماسپ په امید ناست وو. زوی یې له محاصرې څخه خو ورځي مخکي په پټه له ښاره وتلی وو او کاشان او قزوین ته تښتېدلی وو. سلطان هیله لرله، چي زوی به یې له اطرافو څخه د شاه محمود په مقابل کي یو لښکر برابر کړي او په دې ډول به یو کار وکړي، خو زوی یې دو نده مېړه نه وو، چي لښکر برابر کړي او د پلار مرستي ته ورسي.

له بلي خوا خلکو له مظاهرو څخه لاس هم نه اخیستی. د هغوی د

تیت و پرک کولو له پاره د حرمسرای ساتونکو څو پلا پر مظاهره چیانو
ټکان وکړل. دغه کار د خلکو قهر او غوسه لا پسې ډېره کړه او دې ته یې
نژدې کړل، چې پر حرمسرای چپاو ور وړي.

کله چې حالت دې ځای ته ورسېد، نو سلطان حسین احمد آغا نامی
خواجه سرای له افغانانو څخه د دفاع له پاره وټاکی. هغه له یوې خوا په
خلکو کې څه ناڅه محبوبیت درلود او له بلې خوا یې د ښار په دفاع کې
هم خپله زړورتیا ښوولې وه.

احمد آغا لومړی مظاهره چیان دلاسه کړل او بیا یې د یوې ډلګۍ په
مرسته پر افغانانو حمله وکړه. هغه د سختې مقابلې له امله په دې
بریالی سو، چې افغانان څه ناڅه پر شا کړي او ځینې ځایونه بېرته
ورڅخه ونیسي، خو د جنګ په جریان کې عرب سرتېري، چې د
عربستان د والي تر قوماندې لاندې ول، قصداً پر شا سول. دغه کار
احمد آغا ډېر په قهر کړ او خپلو سرتېرو ته یې امر وکړ، چې پر عرب
جنګیالیو ډزې وکړي.

کله چې احمد آغا او د عربستان والي په خپلو منځو کې سره ونښتل،
نو افغانانو دا وخت غنیمت وباله او په ډېره توندۍ یې پر مقابل لوري
حمله ور وړه او سلطنتي سرتېري یې په یوه حمله کې مات کړل.

له جګړې وروسته احمد آغا سلطان حسین ته د عربستان د والي په
شکایت ورغلی او ورته وې ویل، چې دی هر وخت د سلطنتي سرتېرو د
ماتې سبب سوی دئ او له شاه محمود سره د مذهبي یووالي له امله له هغه
سره متحد سوی دئ. داچې د عربستان والي سلطان حسین ته ډېر نژدې
او محبوب وو، نو د احمد آغا خبره یې وا نه ورېده، بلکې د عربستان د والي
په اشاره یې احمد آغا د عسکرۍ له منصب څخه لیرې کړ.

له دې وروسته د سلطان حسين اميدونه يو په بل پسې په نااميدۍ بدلېدل. آخير هغه وو، چې شاه محمود ته يې پيغام ور ولېږى، چې د هغه د پخوانيو شرطونو پر اساس سولې ته اماده دئ، خو شاه محمود هوتک په جواب کې داسې ورته وويل: "اوس د پارس د پاچا په لاس کې هيڅ داسې څه پاته نه دي، چې ماته يې راکړي. هر څه زما د واکمنۍ په قبضه کې دي... اوس خبره د درو هيوادونو کندهار، خراسان او کرمان نه ده، بلکې موضوع خپله د ده او د ده د ټولو هيوادونو په اړه ده."

د دې موضوع په جريان کې شاه محمود ته خبر ورسېد، چې ملک محمود سيستانى د شاوخوا دوولسو زرو سرتېرو سره د گلناباد شاوخوا ته رسېدلى دئ او غواړي د اصفهان په آزادۍ کې له سلطان حسين سره مرسته وکړي. کله چې شاه محمود له دې موضوع خبر سو، نو سملاسي يې له ملک محمود سره په مفاهمه لاس پورې کړ. هغه ته يې سوغاتونه ورولېږل او ژمنه يې ورسره وکړه، چې خراسان به په سيستان پورې وتړي او ملک محمود به دسيستان او خراسان د حاکم په توگه وپېژني. هغه هم موافقه ورسره وکړه او د مشهد پر خوا ولاړ.

له دې پېښې څخه وروسته له دباندې څخه د اصفهان د ژغورلو وروستۍ هيله هم په نهيلۍ بدله سوه او دننه په ښار کې هم ټول خوراکي مواد په تمامېدو سول. حتى د اوښانو، کچرواو خرو غوښې لا په ډېره لوړه بيه خانانو او آمرانو ته رسېدلې. خزانه تشه سوه. د سپينو زرو سلطنتي لوښي يې ويلي کړل او مصرف يې کړل. لښکر ډوډۍ نه درلوده. د عامو خلکو حالت ورځ تر بلې خراب سو. د يوې اوربشني ډوډۍ بيه څلورو تومانو ته ورسېده.

بلاخره د پورتنیو عواملو له کبله د اتو میاشتو تر محاصرې وروسته د (۱۷۲۲م) کال د اکتوبر میاشتي پر (۲۱) نېټه د صفوي کورنی وروستی پاچا سلطان حسین صفوي د دربار د ټولو غړو او منصبدارانو سره د ماتم په تورو کالو کي له شاهي حرم څخه راووت او د اصفهان په کوڅو کي يې په ژړا، ژړا ویل: "دغه ټول مصیبتونه او بلاوي چي زما د حکومت په زمانه کي د خدای (ج) پر بندگانو او د فارس د ښارونو او کلیو پر خلکو باندي نازلي سوې، زما د ناصحانو د خیانت او د مشاورینو د بې دینۍ له لاسه وې... اوس ټینگه اراده لرم، چي تخت و تاج افغانانو ته پرېږدم" خلکو چي د پاچا غم، خوابدي، سوز او گداز ولید، نو خپل مصیبتونه او د پاچا عیبونه يې هېر کړل او له هغه سره د همدردۍ په خاطر په ژړا سر سول.

***

د (۱۷۲۲م) کال د اکتوبر میاشتي (۲۳) نېټه وه. سلطان حسین او د عربستان والي له درو سوو پارسي سرتېرو سره د افغان لښکر د مرکز په يوه څنډه کي په انتظار ولاړ ول.

شاه محمود بیده وو. سلطان حسین او ملگري يې دې ته ماتله ول، چي هغه راویښ سي او خپله تسلیمي ورته وړاندي کړي.

د افغان لښکر مرکز د خوشحالۍ فضا پر سر اخیستی وو. د سرتېرو پر څېرو موسکا خپره وه او په لوړه روحیه دوري هوري کېدل. يو سرتېري ربدي ته وکتل:

– پر اعلیحضرت باندي به ږغ وکو، راویښ به يې کو.

–ولي؟

– وام دا به ببخي ظلم وي، چي يو پاچا ورته راغلی دئ او موږ

داسي بې باکه چلند ورسره کوو؟

– ښه خبره ده.

– بيخي نيم ساعت ماتله سو...

هغه لا خبره نه وه، پوره کړې، چي سر تېري سره په ښور سول. رېدي خپل ملګري ته وکتل:

– آدئ، خپله راويښ سو.

لږ وروسته سلطان حسين ته اجازه ورکړه سوه، چي دېوان خانې ته ورسي. شاه محمود هوتک په دېوان خانه کي زرين بالښت ته تکيه وهلې وه. کله چي سلطان حسين دربار ته ور ورسېد، نو هغه ته يې سلام ور واچاوه. شاه محمود ور ولاړ سو او هغه يې په خپل څنګ کي کښېناوه. سلطان حسين چي کښېناست، نو هغه ته مخاطب سو:

– زويه! نور د خدای پاک (ج) اراده نه ده، چي زه تر دې زيات پاچا سم. اوس هغه وخت رارسېدلی دئ، چي ته د اېران پر تخت کښېنې. ما خپل سلطنت تاسي ته در پرېښود. پاک خدای (ج) دي ستاسي مرستندوی وي...

نوموړي تر دې لنډې وينا وروسته په خپلو لاسو د سلطنت تاج د شاه محمود پر سر کښېښود او د سلطنتي خزانو کيلۍ يې هغه ته وسپارلې. په دربار کي چکچکي او د خوښۍ غوغا پورته سوه. افغانانو شاه محمود او خپلو ملګرو ته مبارکۍ ورکړې.

شاه محمود له سلطان حسين څخه کيلۍ ومنلې او وې ويل:

– د دنيا شان و شوکت، جاه و جلال، اقبال او بې ثباتي همداسي وي.

بيا يې لاندي آيت شريف تېر کړ او زياته يې کړه:

-"ان الله یوتي الملک من یشاء و ینزع الملک ممن یشاء" د ملکونو مالک خدای تعالی (ج) دئ. هغه چي هر چاته وغواړي ورکوي یې او له هر چا څخه چي وغواړي، نو له هغه څخه یې اخلي او بل ته یې ورکوي. یعني له یوه څخه یې اخلي بل ته یې ورکوي. البته زه تاسي ته ډاډ او وعده درکوم، چي تاسي ته به د خپل پلار په سترګه ګورم او په کارونو کي به له تاسي سره سلا او مشوره کوم...

لږ وروسته د شاه محمود هوتک او د سلطان حسین د لور د نکاح مراسم تر سره سول. د دربار فضا یو ځل بیا د مبارکیو ږغونو پر سر واخیسته.

***

د اصفهان د تسلیمۍ په دریمه ورځ شاه محمود هوتک په خورا دبدبه، شان او شوکت سره اصفهان ښار ته ننوت. هغه پر فیل سپور وو، تر مخ او بغلونو یې پر آسانو سپاره سرتېري روان ول او نور سرتېري شا ته په پسې ول.

رېدی څو ګامه وروسته په پسې وو او د سړک په یوه او بله خوا کي ولاړو کسانو کي یې خپله ورکه موندله. د ښاریانو رنګونه الوتي ول، مخونه یې سپېره او د ژوند له آثارو خالي ول. ځیني ښاریان هېښ او هیجاني ول او د ځینو پر څېرو د امید څرکونه لیدل کېدل.

پر سړک باندي یوه ځوانه نجلۍ له نورو ښاریانو څخه جلا روانه وه. د هغې شاه وه. ورېښتان یې ګډ وډ او د دنیا او مافیها له حاله بې پروا له ځان سره په ګډوډو خبرو سر وه.

رېدي څو پلا هغې ته وکتل او بیا یې له یوې نا اشنا اندېښنې سره سترګي په کښې ښخي کړې. یوې نامعلومي بېرې یې زړه ولړزاوه. آس

يې پونده کړ او لږ تېز ور مخته سو. کله چي ور نژدې سو، نو تر خولې يې بې اختياره ووته :

- زليخا!

هغې ورته ونه کتل. له ځان سره يې يو څه وويل او بيا په خندا سوه. د رېدي زړه څړيکه وکړه. له آسه ور کښته سو. خلک د لښکر پر ځای دوی ته متوجه سول: رېدی زليخا ته مخامخ ودرېد. کله چي هغه راورسېده، نو دی يې څېرې ته ځير سو. د هغې توري سترگي تر کولکانو راوتلي وې. د مخ پوست يې وچ او د څېرې هډوکي يې راوتلي ول :

- زليخا!

هغې مخ ورڅخه واړاوه. له ځان سره يې بوڼ وهل او مځکي ته يې وکتل:

- زليخا! زه يم، رېدی!

هغه شنه له خندا ولاړه او له ده څخه تېره سوه. د رېدي زړه راډک سو. آس ته يې ور منډه کړه. له توبرې څخه يې ور بشينه ډوډۍ او پنير هغې ته ونيول. هغې څو پرلپسې غتې، غتې گولې ورڅخه وکړې او له ده څخه تېره سوه.

رېدي تر لاس ونيوله او چيغو، چيغو ورته نارې کړې:

- زليخا زه يم. رېدی!... د خدای روی ته وگوره ولي مي نه پېژنې؟ رېدی يم!

د خلکو له گڼي گوڼي څخه يو ملنگ رېدي ته ور تېر سو. د هغه پر اوږه يې لاس کښېښود :

- بچيه! زغم وکړه! ... ستا مينه د اور قرباني سوه... مينه لکه

اوبه، اور وژني، خو که اور لوی سي، نو بیا د میني په خوراک پاییي!
له دې سره کوږه خلک پر دوی را ټول سول.

۱۳۹۴-۲-۱۷

د شاهي طبیلې کوڅه، اوله ناحیه، کندهار

د لیکوال سره اړیکه:
۰۷۰۰۳۱٦۷۸۵

پای



نثار احمد آریا

# دَ اصفهانَ فاتِح



دوی وای، په دې شرط یې په ضمانت ایله کوو، چې مور ته به خدمت کوي.

رېدي سر را پورته کړ او د هغه سترګو ته څير سو: خدمت؟

هو، دوی وای، مور ته به د افغان لښکر مخبري کوي.

رېدی نا ارامه سره وښورېد...

د ناول مرکزي کرکټر (رېدی) د خپلي میني په لار کي د جلا اولسونو، تهذیبونو او پاچاهیو د ټکر په کشمکش کي را ګیر دئ.

د میني او رزم دا لنډ داستان د افغانانو د هغي تنکی حماسې یادونه هم کوي، چي د اوولسمي میلادي پېړۍ په درېیمه لسيزه پوري اړه لري. دا هغه وخت دئ، چي افغانانو د خپل ملي مشر میرویس خان نیکه په رهبرۍ د پارس د صفوي دولت له جبر او ستم څخه د آزادۍ ساه اخیستې وه.

کله چي میرویس نیکه وفات سو، نو د افغانانو د واک مشرتوب تر یوې لنډې وقفې وروسته د هغه څیرک او جنګیالي زوی شاه محمود هوتک سمبال کړ. نوموړي ډېر ژر د خپل پلار له وصیت سره سم د پارس د صفوي سلطنت د چپه کولو له پاره توره تېره کړه.

دا چي شاه محمود هوتک د خپل پلار د وصیت او رېدی د خپلي میني له پاره څه کوي؟ په نـــاول کي یې ولولئ.